# د زړه وینا

د

## ګل پاچا الفت

Ketabton.com

اشعار

دزمری میاشت

۱۳۴۱

هجري ش. کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په دې کتاب کښې ځینې اشعار لکه:

ښکلا او هنر- د صلح نړۍ

مینه او دوستي- صلح کل

د بشردوستۍ او بین المللي ملګرتیا، دجهاني اتفاق او اتحاد دصلح اوګډ ژوند تلقین کوي او دیوه عالي فکر او جهان بین نظرپه پیداکولوکښې ښه اغیزه لري.

ښائي چه دا راز اشعار په پښتوادب کښې ډیر لږوي او دیوه ادبي تحول دآغاز بسم الله ورته وویلی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ګرانه الفته!

ستاسو دیوان ماوکوت، هغه مخکښې چاپ شوي شعرونه مو خو د غوره اشعارو په نامه نشر شوي دي، دا پاتې شعرونه مو چه اوس راټول شوي دا به په څه نامه شایع کیږي؟ دا ګوندې غوره اشعارنه دي؟

نه! تبعیض مه کوه! غاړه به دې بنده شي.

زما په نظر ستا ټول شعرونه غوره دي، ستا ټول خیالونه ژور اوفکرونه لوړدي، ماته ستا ټولې خبرې ښې ښکاري.

رښتیا! وایي ته خو خبرې نه کوې ته چه داسې ښه شعرونه ویلای شې ولې به خبرې کوې.

ستا شعرونه او ستا نثرونه خو ستا خبرې دي چه د چاپ په برکت هرچاته رسي اوهر څوک پکښې د خپل زړه خبرې اوري.

نو ګویا ته ډیرو خلکو سره ډیره موده او هروخت خبرې کوې.

سید شمس الدین مجروح

دحمل ۲۵- ۱۳٤۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر گویندۀ حقیقی را ارمغانیست که بدیگران هدیه میکند.
این ارمغان تهنا پیرایۀ حروف و کلمات نیست، جستجوی زیبائی در بازی لفظ و صنا یع فرینده نیست، آهنگ و قافیه نیست ایهام و ادماج نیست، این ارمغان پیام است.
پیام شاعر بدلهای مردم، باندیشه وتخیل مردم بذوق و عواطف مردم، نه تهنا به کسانی که در قلمروی محدود بسر میرند و در یک روز گار زندگانی دارند.
بلکه در هر جا که دل دردمندی می طپد، و در هر روزگارکه مردم تشنۀ مردمی و مشتاق پرورش عواطف انسانی میباشند.
الفت شاعر بزرگوار و دوست دیرین من ازگویندگانی است که این پیام را در کلمات عذب وجان بخش، بما ارمغان کرده و بگفتۀ خودش آنچه را دانشمندان دیگر، در ژرفای چاه فلسفه تعمق مینمایند وی در ماورای ابر های خیال، در سراپردۀ آسمان دل، در سرادق جهان جان جستجوکرده است.
و اکنون استعداد فطری وی پیام خود رابعنوانهای- چراغ زندگی، زیبائی وهنر، .خاک وطن، صلح، دوستی، سپین غر، دهقانی، بهار و خزان، حال، عاقبت، امید، دلهای زخمی، پرواز باز، سرنگونی رایت استعمار، طلوع خورشید، آزادی،و........ در دسترس استفاده گذاشته است.
اگراین قضیه صادق باشد که فضیلت را باید برای فضلیت جست پس این اندیشه های نغز و پیام بشري، کافیست که حضرت الفت را بآوردن وپروردن آن تهنیت گوئیم.

دلو ۱۳٤۰

خلیلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د الفت وینا

د الفت د ویناوو دغه مجموعه ما پداسې حا ل کې ولیدله چی د ښاغلی سید محمدایشان الحسینی الافغانی په ښکلی خط لیکلې سوې ده.
دلته دوو تنو هنرمنانو د خپل هنر پیاوړتوب ښکاره کړی دی. ښاغلی حسینی د نستعلیق د هنر ښکلا، او ښاغلی الفت د وینا او شعر ښکلا.
دوو تنو پخو او پیاوړو هنرمنانو لاس سره یو کړی ، او دغه ښکلې او ګلالۍ مجموعه ئې تخلیق کړېده!
دلته دوه هنره سره یو ځای سوي دی، د انساني استعداد دوو برېښناو ځلاکړې ده دوو قلمو خپل مهارت او ښکولو نه انحورکړې ده، ښکلې وینا په ښه خط لیکنه زمونږ د اسلافو ښکلئ میراث دی، او خوښ یم چې دا مجموعه د دغو دوو لرغونو هنرو، یو بشپړ اوکامل مظهر وینم.
ښکلا او جمال په کائناتو کې مختلف مظاهر لري، که د وینا په معنوي اولفظي سمون او جوړښت کې ځان ښکاره کړي، نو لکه د الفت شعر داسې خوږ او خونده ور او جذاب سي خو که د تورو اوکلماتو په ظاهري لیکنی او انځور کړنی کې ظهور اوتجلاو کړي، نو لکه د ښاغلی حسینی غوندې ښکلی او زړه وړونکی خط سي.
دا دواړه نفیس هنرونه دي، د دواړو د الهام سر چینه یوه ده، او هرکله چې له فیاض منبعه د جمال تجلیات ځلیږي، او خپریږی، نو په کائناتو کې آرت اوصنعت او جمیل فنون روزی. شعر اوښکلی خط، د دې جمالی فعل او انفعال دوه کښلی مظاهر دی.
د ښاغلی حسینی دغه جمال آفرینی خو زموږ د وطن د یوه پیاوړی خطاط مرحوم جناب مغفورسید عطا محمد شاه قندهاري د هنري مکتب یوه مغتنمه نمونه ده چې د پښتنو د فنان ذوق نمایندګی کوی.
اما د الفت وینا!
دلته هم د ښکارندوی د وینا ټینګار اوصلابت، د خوشحال خان د کلام سلاست او مهابت او د رحمان بابا رقت او د زړه درد ګرده ښکاري، دلته صنعت او جمال په مختلفو جولوکې نخاکوي، دلته د قندهاری سید روح د خوشحال او رحمان سره لاس ترغاړه ګرزی!
زما د الفت تر منظومې وینا، د ده منثورې ټوټې خوښې دي. دی شاعر اوفنان دئ!
د ده نثر هم شعر دی! خو نظم ئې هم هغسې خوند، هغسې ښکلا، او هغه جمال لري.
دی د خاصو خاصو افکارو په پرورښت او تصویر کې استاد دی، نوی نوی نکات پیداکوي د ژوند انه عمیقو اسرارو ته ملتفت دی، د طبیعت بسیط اوپلن ډګر د ده د مطالعې او غایر نظر جولانګاه ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د الفت په وینا کې د نوی دنیا د نوی فکراو مدني تحولاتو اغیزې ښه ښکاري، خو دی د کنړ د څنډو د پښتنو په کوډغلو هم ورننوزی، د خپل قوم په دردونو ځان خبروي له لغړ دهقانه سره د پټې پر پوله کښېني او په داسې وینا ځنی ږغیږی، چې هغه له الفته دکه وی! د زړه له درده حکایت کوی، اوهغه څه وایي چې نو رخلق یې نسي ویلای.

نو زه پر دغوپاڼو (دالفت وینا) نوم ږدم.

داځکه چی:

زه په دې اشعاروکې د الفت اومحبت تجلیات وینم.

رنګینه شعر می مه بوله خبری:

دا روان ځما د زړه د وینو رود دی.

کابل. جمال مینه. د اسد څورلسمه ۱۳٤۱

عبد الحی حبیبی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د الفت اشعار

چه د پښتو ټولنې له خوا ماته د نظرئې دپاره راکړی شوی وو، ماوکتل، په دې مجموعه کښې نوی آثار او څه پخوانی غوره اشعار را غونډ شوی دی.
اشعار عموماً دوه جنبې لري:- یوه ئې د ژوند او بله ئې د خوند ده، د ژوند پلو ئې حکمت او د خوند پلو ئې کیفیت دی.ژوند بې خونده کیدی شی، خو خوندبې ژونده نشي کیدای!
مګر د شعر کمال دادی چه حکمت او لذت دواړه پکښې واغږ ل شی.
د الفت په غوره اشعارو کښې د کیفیت پله درنه ده، اوپه نورو اشعارو کښې ئې دحکمت پلو ډیرکوښښ شوی دي.
زما په عقیده که شاعر د خپلو خوندورو اشعارو تکرار لازم وبولي نو څه دباک خبره خو به نه وی! د دنیا ټولې مشهورې ژبې د لیکوالو او شاعرانو د قلم په قوت لوړ معیار ته رسیدلي دي. شعر باید د ژبې له پلوه د فصاحت اوبلاغت لرونکی وي چه د ژبې ادبي معیاراوچت کړی شي. او دمعنی له پلوه باید د څه داسې الهاماتو درلودونکی وی چه د عصر اوزمانی پیغام ورته ویل کیدی او د قوم د فکر د تنویر او د ذهني تربیت موجب ګرځیدی شي! د ښاغلی الفت په شعر کښې دغه مزایا لیدل کیږي. په تیر وختونو کښې چه چا د الفت صاحب اشعارلوستی دی بې تاثیره ترې نه دې پاته شوی، اوپه پشتنی جامعه اونوره نړی کښې ئې ښه شهرت حاصل کړی دی، پښتو ژبه د پخو شاعرانو کلام او دیوانونو ته زیاته اړتیا لري ځکه چه د ژبې او شعرنسبت یو تر بله داسې دي لکه د بدن اوساه تعلق، نو زه په خپل نوبت د الفت صاحب اوداسې نورو شعراؤ د کلام د مجموعو د نشراو چاپ طرفداریم.او د پښتانه جامعې د پاره یې ګټورکاربولم.

۲۸ د حوت ۱۲٤۰ قیام الدین (خادم)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښه مننه

د وطن له مشهور اومنلي خطاط ښاغلی سیدمحمد ایشان الحسینی الافغانی څخه ډیر خوښ یم چه زما دغه اشعار یې پخپل ښکلی خط صورتاً داسې ښایسته کړل چه د نظر د خاوندانو نظرجلبوي او د هر چاسترګې پرې خوږیږي.

هماغسې چه یو شعر د ښه آو از په برکت او د موسیقی په ملتیا بل کیف او اثرپیداکوي ښه خط هم د شعرښکلا او رڼا ډیره زیاتوي.

کله چه یو هنر له بل سره مل شي او یو ښایست په بل کښې حل شي نو هغه څه ترینه جوړشي چه سترګې ئې په لیدو، غوږونه یې په اوریدو او زړونه یې په مینه اومحبت نه مړیږي.

که چیري یوه ډیره ښکلې سندرغاړې چه له ډیرښه صورت سره ډیرښه آواز او د موسیقی هنر هم ولري او یوښه شعرپه مجلس کښې په ساز او سرودکښې ووایي یقیناً یې اغیزه څو چنده کیږي.

ښه شعر په ښه خط همدغسې وګڼه.

ښائي چه د دې کتاب ځینې اشعار هم داسې وي چه له حسن خط سره د لفظ اومعنا حسن هم ولري او نورعلٰی نورٍ ورته وویلی شو.

د دې اشعارو په چاپولوکښې دپوهنی دتجارتي مطبعې د ښاغلی رئیس او د طباعتي مدیر او نورو کارکوونکو حسن قبول او ښه مرسته هم د تشکر وړ ده ځکه چه په ډیر لنډ اوتنګ وخت کښې ئې د دغه کتاب چاپول په خوښی ومنل اوله ډیر ژر چاپولو سره ئې دښه چاپولو ډاډ هم راکړ.

د پښتو ټولنې د ښاغلو غړو او مسلکی مجلس ښه نظرچه د دې اشعارو د چاپولو په تصویب کښې یې ښکاره کړ د ډیر قدر وړدي ځکه چه بې د دوی له نظریو او منښت څخه دا کتاب د پښتو ټولنې له خوا نشو چاپیدلی.

د دې کتاب لیکل په ښه خطاط او بیایې په آفسېټ چاپول د مسلکی مجلس د تصویب او د واکمنې جرګې دمنظوری برکت دي چه زه ورته په درنه سترګه ګورم.

ګل پاچا (الفت) د زمری ۱۵ مه

۱۳٤۱

# فهرست


| سرليك: | مخ: | سرليك: | مخ: |
|---|---|---|---|
| شاعر | ۱ | زما حال | ۳۹ |
| ښکلا او هنر | ۳_۱ | دامید رڼا | ۴۰ |
| دصلح نړۍ | ۵_۳ | لمره! | ۴۲_۴۰ |
| مینه اودوستي | ۷_۵ | دوطن ترانه | ۴۳_۴۲ |
| صلح کل | ۷ | دافغان ترانه | ۴۵_۴۳ |
| ابتکار | ۸_۷ | دیووالی ترانه | ۴۵ |
| ژوند | ۹_۸ | دمعارف ترانه | ۴۶_۴۵ |
| دمونشن دسفریوه خاطره | ۹ | دغیرت سندره | ۴۷_۴۶ |
| دهقاني | ۱۱_۱۰ | استعمارچیان | ۴۷ |
| دوطن محبت | ۱۱ | علم او معنا | ۴۸_۴۷ |
| دوطن پالنه | ۱۳_۱۲ | دپلار توره | ۴۹_۴۸ |
| ګرانه وطنه! | ۱۵_۱۳ | نه ځي | ۵۰_۴۹ |
| دوطن خاوره | ۱۶_۱۵ | ښکاري باز | ۵۲_۵۰ |
| سپین غر | ۱۸_۱۶ | زخمي زړه | ۵۹_۵۲ |
| په باغ کښې | ۲۰_۱۸ | دشاعرنظر | ۶۰_۵۹ |
| آزادي | ۲۰ | خه ګورم | ۶۰ |
| دزړه شکوه | ۲۱ | غریب ماشوم | ۶۲_۶۱ |
| دژوند ډیوه | ۲۳_۲۱ | خوارحسن | ۶۳_۶۲ |
| پسرلی راغلی | ۲۳ | همدردي | ۶۴_۶۳ |
| دبهارفیض | ۲۴ | حسن اونظر | ۶۵_۶۴ |
| دخزان سندره | ۲۶_۲۵ | بډای | ۶۵ |
| دمني خاطره | ۲۷_۲۶ | ماشوم | ۶۶ |
| په وربل باندې ګرد | ۲۷ | غزل | ۶۷_۶۶ |
| دحسن جلوه | ۲۸ | دنازمېرمنې | ۶۸_۶۷ |
| ملت اومملکت | ۳۰_۲۸ | په لیلی پسې ځم | ۶۹ |
| لوی افتخار | ۳۲_۳۰ | خومره به ښه وی | ۷۰_۶۹ |
| ویده ګوجر | ۳۳_۳۲ | خه یم | ۷۱ |
| ناخاپي کاڼي | ۳۷_۳۳ | زما ګناه | ۷۲_۷۱ |
| ټکی اوریا | ۳۸_۳۷ | زما خوب | ۷۳_۷۲ |
| عاقبت | ۳۹_۳۸ | انسان | ۷۴_۷۳ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


| سر ليك: | مخ: |
|---|---|
| خـــــه جوړشـــــــوه؟ | ۷۵ـ۷۶ |
| عــــــــــــدالت | ۷۶ |
| دوه مــــــــــاموران | ۷۷ـ۷۸ |
| دحـــــق جذبـــــــه | ۷۹ |
| خــــاوري اوکردونـــــه | ۷۹ـ۸۱ |
| فرداوملـــــــــــــت | ۸۱ |
| علـــــم اوپوهــــــه | ۸۲ |
| ســــــــــــرېتوب | ۸۲ |
| همـــــــــــدردي | ۸۳ |
| سياســـــــــــــت | ۸۳ |
| بــــــي قــــــدري | ۸۳ |
| ديمركراســــــــــي | ۸۴ |
| دروح اطمينــــــــان | ۸۴ |
| صـــــــــــــــبر | ۸۴ـ۸۵ |
| ددنيـــــا قــــــانون | ۸۵ |
| يوســـــف اوزلېخـــــا | ۸۵ |
| فكـــــــر او مينـــــــه | ۸۶ |
| آشـــــــــــنايي | ۸۶ |
| فكـــــراوكـــــار | ۸۶ـ۸۷ |
| بــــــي خبـــــري | ۸۷ |
| علــــــت اوســـــبب | ۸۷ |
| دهقانــــــــــــــه | ۸۸ |
| شـــــــــــــــعر | ۸۸ |
| مــــــات كـــــودړى | ۸۸ـ۸۹ |
| خوشـــــــــحالي | ۸۹ |
| تــــــور او ســــــپين | ۸۹ |
| شــــــعراو حكمــــــت | ۹۰ |
| ســــپين او تـــــور ديـــوان | ۹۰ـ۹۱ |
| حقيقــــــــــــــت | ۹۱ـ۹۲ |
| ثـــــــــــــــواب | ۹۲ |
| دشاعرشـــــــــــعار | ۹۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# شاعر

خه رندي اوخه شورخه مستي    خه بلبل غوندې ګل پرستي
دعشق اوربانديې سوی ستي    دشاعر ده همدغه هستي

لکه ګل جګرخون او خندان    دبهار په ورمه پرېشان
په وربل په کاکل دجانان    لکه تاج وي په سر، سرګردان

نرم زړه دعيسی خوښوي    خوفرعون اوقارون غرقوي
دنمرودتېول بتان ماتوي    دښايست بت ته سرټيټوي

له هرقيده آزاد زنداني    دعشق غم ګڼي تاج سلطاني
ورسره شامدام حيراني    سرکښې فکراوخيال جهاني

نه يې يارچېرې شته نه ريبار    خو آرزو ورسره ددېدار
خدای خبرخوک راځي په دې لار    لري ډېرنامعلوم انتظار

# ښکلا او هنر*

په هرځای کښې په هرچاکښې چې ښکلاوي
ديورپ دافريقې که داسياوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنظرخاوندپه مینه ورته ګوري

مسلمان وي اوکه ګبرکه ترساوي

دلته فرق دامریکې اود روس نشته

ښکلی ښه دی که دهرسرددنیا وي

ذوق اومینه خدای آزاده پیداکړې

شاعران له قیداوشرطه بې پرواوي

پتنګان ورسره عشق لري هرګوره

دډیوې ځا ی که مسجد که کلیساو ي

ښه آهنګ چې په هرسازکښې و ي موزون د ی

که رباب و ي که شپېلۍ و ي که داریاو ي

ننداروا وتماشوته به ورځمه

دهرچاپه ساز چې ښکلي په ګډاوي

چې په هره ژبه وي ښه شعرښه دی

که زما وي که دتاکه دبل چاوي

ښه تابلودهنرمن خوښوي هرڅوک

که دچین وي که دهندکه دبرماوي

په الفاظوکښې وي ډېراختلافونه

یوله بله متفق اهل معنا وي

ددوستۍ کورکښې دتوراوسپین فرق نشته

په هرچاکښې چې وي مینه خوښ زما وي

په سپین مخ چې توري زلفې راخورې شي

دښایست دډیوې لاښه تجلا وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تورله سپین سره ښه ښکاري سپین له توره

څه به ښه وي چې یوبل سره پخلاوي

دهنرصنعت اوحسن په عالم کښې

هریوګل چې په هر رنګ کښې وي زیباوي

ښکلی مخ له هرې خواچې راښکاره شي

د الفت سترګولیدلی لاپخوا وي

## دصلح نړی

هغه ورځ به بختوره وي هرګوره

چې دسپینوزړونه تورنه وي له توره

کرکه نه وي یوله بله محبت وي

ورورولی صلح صفاوي ښه نیت وي

مرورخلق یوبل سره پخلا شي

نه چې غوښه او چاړه هغه او داشي

بشري دوستي قایمه په جهان وي

خوښ په صلح هم کافرهم مسلمان وي

نژادي توپیرهیڅ نه وي په دنیاکښې

نه په شرق اونه په غرب نه امریکاکښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

استقلال منلی حق دهرملت وي
خوقایم په ملتوکښې اخوت وي

داخورنګه ساز آواز دهېوادونو
شي یوه ارکسترا د ولسونو

دګډژونداصل واساس اصلي منظوروي
جهاني عدل وانصاف صحیح دستور وي

هرملت په هرنظرکښې وي ښاغلی
که په هررنګ وآیین کښې وي راغلی

سرېتوب وي محترم په هرلباس کښې
په زري جاموکښې وي که په کرباس کښې

داسې وساتي هرڅوک خپل مسلکونه
چې ونکړي یوله بل سره جنګونه

ټول جهان ددوستۍ کوروي سرترسره
دجنګ ویره شي له زړونونه بهره

زورتړلی وي دصلح په قانون
مهارشوی مست اوښان وي دجنون

تویول دوینوشرم او پېغوروي
شرمنده ذلیل سرتیټي ظلم زوروي

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنګ شي هرچېرته دصلح بيرغونه
شي په سمه لارروان سياستونه

دانسان زړګی له جنګ اوجګړې تورشي
توره ماته شي اوجوړورنه څه نورشي

خوله نه وي علامه دخجالت
په خدمت خولې کېدل وي شرافت

يوله بله محبت مهرباني وي
د „الفت“ هيله اوفکر جهاني وي

زه له تاځنې ځاريږم ته له مانه
که جداهم وي زماآيين له تانه

# مينه اودوستي*

مينه ګلزارته بلبلان راولي
بلوډيووته پتنګان راولي

شاه دګدازړه ته نژدې کاندي
دخوارجونګړې ته سلطان راولي

که يوپه ځمکه بل اسمان کښې اوسي
ځمکې ته ستوری داسمان راولي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخوارعاشق ددلداری دپاره
په توره شپه ماه تابان راولي

ښکلی چې ګورم ګڼې مې نیسي
مینه په مابانديې پریان راولي

ګوره په سپین مخ باندې توري زلفې
توره شپه ځنګه مهرویان راولي

په ښکلومینه دهرچاراځي
خواران زما مینه په ځان راولي

دغریبانواوبې وزلو دوستي
سړی په خیراوپه احسان راولي

زړونه باغ شي ددوستۍ په هوا
دښمني زړونوته خزان راولي

دوستي دجنګ اوجګړومخه نیسي
صلح وسلام امن وامان راولي

یودوست دبل دوست دخوښۍ دپاره
خواري زحمت تکلیف په ځان راولي

دتوروسپین اوسره دوستۍ خاطرته
سپین مخ سرې شونډې تورچشمان راولي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دستر ګوکورکښې سپین اوتورچې ګوري
درته دګډ ژوندشا هدان راولي

## صلح کل***

له واړه کوره راوځه لوی جهان سره اشنا شه
خپل اوقام نه راوچت شه له انسان سره اشناشه
له هګکۍ نه رابهرشه په قفس کښې مه اوسیږه
له دې تیټې هواپورته له طیران سره اشناشه
دزمان مکان په قیدکښې اوسېدنه اسارت دی
محدودمه اوسه هرګوره لا مکان سره اشناشه
دبندې فکرخاونده دوهمونو نظربنده!
که ذهنې آزادي غواړې له عرفان سره اشناشه
که دځان په شان انسان ته دربېدلی یې سرکوزی
ځان دې نه دی پېژندلی له خپل ځان سره اشناشه
چې دجاه وجلال بت ته په سجده باندې نسکورېې
بې ایمانه راته ښکارې له ایمان سره اشناشه
چې سړی هرځومره لوی شي ترځان لوی سره آشناشي
والاشان سره آشناشوې دخدای شان سره اشناشه
دجهان تاریخ ته ځیرشه دبدلون اړخونه ګوره
کُلّ یومٍ هُوَفې شاٍن دی له هرشان سره اشناشه
اور، اوبوسره دې کار دی په خوږوترخوژوندی یې
صلح کل شه ! داضدادو، خاندان سره اشناشه

## ابتکار

فراخۍ کښې خوشحالي مبتذل کاردی
په تنګسه کښې چې وي خوښ داابتکاردی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناوې خوښه په ډولی کښې ده ګوره
رقاصې لره پراخ میدان په کاردی

یوچین کښې بل په کوټ پتلون کښې خوښ وي
ځوان دپېغلې زوړ کونډې خریداردی

دیارغیږ کښې که وي هرڅوفشارونه
په همداسې مضیقه کښې خوښ دلداردی

کوټنی کښې زاهدخوښ په ریاضت دی
عیش عشرت خخه بېزاره پرهېزګاردی

مجاهدحق دلارې چې هرڅوک وي
دخلیل په شاني خوښ په سره انګاردی

دکوګل په تنګ قفس کښې زړونه خوښ دي
چې لاس تنګ شي نودګېډې عمرخواردی

ګېډو خوښ وي دکندو خولې ته چې ګوري
مین ګوره! خوښ په تنګ خوله دیاردی

# ژوند

لاس به وانخلم له ژونده که مې دواړه لاسه پرې کا
ځم په سر دژوندپه لاره که مې څوک پښې ارې کا

که مې وکاږي دوه سترګې ژوندته ګورمه په مینه
زړه له ژونده نه توریږي که ژوندون توري تیارې کا

دنمرود په اورکه سوزم له ژوندونه بېزارنه یم
دبلاپه خوله کښې هم لا،ژوندون ماته اشارې کا

ژوندمې خوښ دی په هرحال کښې دژوندمینه راسره ده
همدغه مینه په زړه کښې راپیداښې ښې اسرې کا

ژوندقوت دی حرکت دی مخکښې تګ دی محبت دی
دژوندون دباغ بلبله شپه او ورځ دغه نارې کا

(c) ketabton.com: The Digital Library

مایوسي لویه ګناه ده مرګ دی مړینه ده فناده
په امید ژوندون ته ګورم که چېرې راته تېرې کا
ژوندچې هرڅنګه وي ښه دی هرڅوک غواړي چې ژوندی وي
مګرژوندغلامۍ دې خدای برباد خاورې ایرې کا
که نورهېڅ نشئ کولئ وچ اوښنډشئ غلامانو
غلامان چې پیدانشي باداران به بیچارې کا

# دمونشن دسفریوه خاطره***

دلته بل رسم و رواج بله دنیا ده
مینه پټه چانه نه ده برالاده
ښکلول غېږکښې نیول دنورومخکښې
که په خوښه اوړضاوي څه پرواده
په غلانه دي په ښکاره دي یاراني
نه هجران شته نه دهجرترانې
بې ربیاره وصالونه شامدام دي
نشته کوډې نه تعویذنه شکرانې
که په ګل پورې سینه مېږي بلبله
که دشونډوښکلول وي یوله بله
نه پېغورشته نه رټل شته نه تورونه
که هرچا له ځان سره څوک ګډوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دهقانی

دهقاني خومره ښه کاردی　　هردهقان سړی مالداردی

لري مېرې اوپسونه　　شنه پټي اوشنه باغونه

همېشه په شنوباغچوکښې　　پاس دونوپه سروکښې

نغمې اوري دبلبلو　　ويني ښې غنچې دګلو

دخپل لاس له برکته　　اوله خپل عالي همته

له سپېروخاوروخپل ځانته　　خپل اولاداوبل انسان ته

خوندورشیان پیداکړي　　داتیاره جهان رڼا کړي

وچ ډګراوبیابان　　کړي شاعرته ګلستان

په خوږومېوومرغان　　په ګلانوبلبلان

کړي خوشحال له خپله ځانه　　ټول دده شي ثناخوانه

که غلې اوکه مېوې دي　　که دګلوښې غنچې دي

که طعام که فاکهه ده　　که دښه ځای ننداره ده

ددهقان دلاس اثردی　　دهقاني ځه لوی هنردی

ددهقان دبازو زوردی　　چې نن داجهان سمسوردی

جغ اوسپاره ددهقان　　آبادي ده دجهان

دادښکلوښه لباس　　داد چاپه سرالماس

دبډای کورکښې سره زر　　داښایسته ښکلی زېور

ددهقان دکارحاصل دی　　پرې پوهېږي چې عاقل دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاس تېاکی ددهقان

درګوهرلاس کښې دخان

# دوطن محبت*

دوطن پــه محبت بانــدې قسم خورم

چې دځان لــه غمــه زيات دوطن غم خورم

دوطن دشــرف سپريم نــه وېرېږم

کــه دتوروګذارونــه دم پــه دم خورم

داخوړې، غوړې ګولې دې وي دنورو

دوطن دفاع کښې زه ګولۍ دبم خورم

کفن نــه غواړم دژوندجاموکښې درومــم

دجنت بــاغ کښې مېوې رقم رقم خورم

يم پرهېزدبې ننګۍ لــه خوراکونو

پــه غيرت ګټلــی شی بــه ولې کم خورم

دوطن داعتلاتــرې يم ځکــه

لکــه ګل هــره شپه ځاخکی دشبنم خورم

زه هغــه يم چې تل ننګ پــه وطن خورمه

هغــه نه يم چې رشوت سود اوسلم خورم

چې پــه سرمې دوطن خدمت منلــی

ځــه پــرواده کــه خپل سرلکه قلم خورم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوطن پالنه

لکه شمع که ځان وسوزې په اورته

نوبه هله کړې رڼا مېنه اوکورته

که فرهادغوندې دې غرونه سوری نکړه

دشیرین وطن په عشق کښې یې نامتورته

په خولویې دتندې که آبیاري کړې

دوطن دګلوباغ به کړې سمسورته

که په اوراوبوکښې تېغ غوندې غوټه شې

نوپه سربه ددښمن شې هله سورته

لکه ونه که بارنکړې په سرپیټۍ

وبه نه شیندې خوږه مېوه هرلورته

که دبادپشان دې ځان کړسرګردانه

نوبه وچې کړې خولې له مخ دورورته

دپنبې غوندې ځان ورکړه حلاجې ته

چې کړې پټ دخپل وطن لوڅ اوسرتورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

که دځمکې هومره لوی یې حرکت کړه
تنبلي اوسکون بوله لوی پېغورته

دوطن آب وآبرودې که شوه تویه
په سیالانوکښې به سرجګ نکړې نورته

دا اوبه چې ته یې څکې دوطن پۍ دي
نووطن بوله په شان دخپلې مورته

چاچې ایښې په دې تي درسره خوله ده
هغه خوراو وروګنه دسترګوتورته

هېڅکله په بدنظرورته مه ګوره
لکه ځان دهغه هم اوسه غمخورته

په „الفت“ به بېګانه اوپردي خپل کړې
وبه نکړې دغه کارپه زراوزورته

# ګرانه وطنه!

ګرانه وطنه! څومره زیبایې
جنت دځمکې زړه ددنیا یې

ښاغلی تاج ته دایشیایې
وړدستایلوته په رشتیایې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لعل وګوهرشته ستابدخشان کښې

تمدن خورشوستا په جهان کښې

ننګيالی تادی هروخت روزلی

ښه ښه ځوانان دی تازيږولی

کارنامې ستادي تاريخ ساتلی

ستافرزندان دي څومره غښتلی

زمريان پراته دي ستاپه لمن کښې

تل پسرلی وي ستاپه چمن کښې

دوطن ورونوبياشئ راپورته

دښمن پرې نږدئ خپل کلی کورته

دتورې غږ موتللی هرلورته

څوک ټينګېدی شي زمونږه زورته

مونږ دي مات کړي ډېرقوتونه

مونږ لاندې کړي ډېرهېوادونه

ښاغلی نسل دآرين يو

يومومذهب دی ديووطن يو

فخرمويودی لکه يوتن يو

مين په هرګل دخپل چمن يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاه اووطن نه تهٔ ول قربانیږو
ځای دغیرت دی کله دریږو

# دوطن خاوره

چې کېمابوتۍ پسې ګرځي ځوک په سمه اوغر
دوطن خاوره ده کېماورکړئ سراغ اوخبر

له سپېروخاوروپيداکېږي څه چې غواړي بشر
که زحمت واخلي په ځان باندې اولري څه هنر

په کاراوزیاربانديې له تورو خاوروزرجوړيږي
دکاریګردلاس تنٔاکونه ګوهرجوړيږي

ستاکه خوراک دي که پوښاک واړه له خاوروپیدا
حیف وافسوس دی که آباده نکړې خپله بېدیا

یاپرېږدې خاورولاندې پټ خپل معدنونه وریا
څه چې لری وایې خلې ته په ګران قیمت له بل چا

نفت په کاله کښې تاپيپونه ګرځول ورپسې
اوبه منګی کښې وې ته تږي ګرځېدلې هسې

وړی زمونږدي اوښړی اخلوله بل ځنې تل
پوټکی زمونږ دی جوړوي ترېنه بوټونه یوبل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګلان زمونږدي بوي وي يې دپردیوبلبل
هرڅه لروخوده خالي زمونږلمن اومنګول
راشئ چې وغړووسترګې شاوخواوګورو
ښکته اوپورته سمه غرخپله صحراوګورو

خلق غرونه کيني پکښې راز راز خزانې لټوي
زمونږ ځوانان پکښې دسوو وچې خادې ټولوي

څه چې پيداکړي هغه اخلي خپلې شپې تېروي
ځمکه که کيني نورڅه نکړي جنازې ښخوي
نوروله وسپنې فولاد اوماشينونه جوړکړه
مونږ ترې ناقص اسباب اوپڅ لرونه جوړکړه

# سپين غر*****

چاويل چې کوه قاف نه هغه خوا يوه کلا ده
ښاپيريان پکښې اوسيږي پکښې بل شانته هوا ده
پيره داريې يوسپين ديودی ورنه ويره د هر چا ده
څوک پردی نشي ورتللی لاريې سخته ده بشانه
داقصه مې اوريدلي په يووخت کښې وه له چانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس پوهیږم هغه سپین دیو    داسپین غردی ننګرهارکښې

دخیبرله دروازې نه    دې خواپروت دی سخته لارکښې

بې پښتونه بل څوک نشي    ګرځېدلی دې ګلزارکښې

چې له شنوزمریوډک دی لري هسې لوی ځنګلونه

په هواکښې یې تل ګرځي سپین بازان کوي څارونه

ښایسته له هروطنه    اوله هرملکه زیبادی

تورنښترېې توروې زلفې    تک سپین مخ یې دلیلادی

سپین سپېځلی ښکاره کېږي    ته به وایې سپین سبادی

دسپوږمۍ اودنمر کوردی ځکه هومره دی روښانه

هرسحرېې له کنډوه نمراخېژي له آسمانه

پاس دغره په سرځلېږي    تجلی دې پلوشوده

نمرسپوږمۍ پکښې ځان ګوري    آیینه دې پرښتوده

تکه سپینه رڼا برېښي    درحمت دنوررشوده

هسې ښکاري لکه داچې دملکوکوه طوروي

له اسمان نه ورېدلی په دې ځای سپېځلی نوروي

دجنت دباغ ورمۍ دي    چې هروخت دلته لګېږي

درنوستوروډیوې دي    پکښې هره شپه بلېږي

له صیاده ویره نشته    زرکې خاندي هوسېږي

دپښتون لویه ځانګوده کانوګټونه تیاره

خدای دې نه کاچې پردی به کله مومي ورته لاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرې خواته یې بهېږي جروبی اوابشارونه
دشرابو اوعسلو پکښې شته دي ډک رودونه
ښه لمن لري سرسبزه پکښې مېشت دي ولسونه
ښایسته ښې منظرې دي پښتانه یې ننداري کړي
دسپین غره تورې لښکرې دښتروېې پېرې کړي
دامتل دی پښتونکښې په لوی غره دخدای نظروي
دسپین غره دپاسه ځکه تجلی شام وسحروي
نمر لا څرک نه وي وهلی درڼاهلته اثروي

کوه طورغوندې ځلېږي خوافسوس چې موسی نشته
چې الهام ورڅخه واخلي هغه لوی رهنمانشته

## په باغ کښې***

ښکلی باغ تازه چمن ودگلانو
شین سحراوشوروشورودمرغانو
په سل قسمه اوازونه ښې نغمې وې
هرطرف ته دبلبلوترانې وې
یومرغه ویل داخومره ښه دنیاده
ښکلی بڼ تازه گلش تازه هواده

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې شنوپاڼوکښې ژوندډېرغنيمت دی
ددې باغ خوږې مېوې څه لوی نعمت دی

مګرويره ده په کارله صيادانو
له بې رحمه بې انصافه انسانانو

تنګه کړې په مونږ دوی دغه فضاده
ددوی وصف ګوره يسفک الدما ده

يوبندي کړي په قفس کښې چې ويېږه
بل په سره اوربانډې نيسي چې کړيږه
کاشکی نه وای پيداشوي انسانان
دادسختوسختوزړونوخاوندان
له بل لوري ورته غږشو داځه وايې
ته چې دغه شينکی بڼ دارنګه ستايې
داخوخپله هسې نه دی پيداشوی
انسان ډېرزياراوزحمت پکښې ويستلی
که انسان نه وی دا باغ وچه ميره ده

ښايسته کړې خو انسان دا منظره ده

بې باغبانه دغه باغ نه پاتې کيږي
داګلش په سپېره ډاګ باندې بدليږي

په جهان کښې که بې رحمه صيادان شته
ورسره ډېرزياروېستونکی دهقانان شته
که يوونې تويوي اوخونريزي کړي
بل په کارکښې شي خولې عرقرېزي کړي
ديوه لاس کښې که توره اوټوپک دی
دبل لاس ګوره تپاکوځخه ډک دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای په سروګلومینو ننداړچیانو
هیروئ مه کاراوزیاردباغبانانو
دهقانان لري په تاسودېرحقونه
دهمدوی دلاس پیدادی داګلونه

# آزادي*****

په شړی ګښې ښه یم زه آزاد فقیر
نه ورېښموکښې چینجی غونډې اسیر
په خمتاکښې حرازاد ښه دی سل ځله
له غلامه چې لباس یې وي حریر
دوژغنوپه کېږدی کښې که آزاد یم
یووېښته به یې ورنکړم په کشمیر
په ویجاړه کښې مرغه ځاله کښې خوښ وي
په قفس کښې دسرو زرووي زهیر
چې مرغان په هواوینم چرګ په ځمکه
راته یاد داسارت شي بدتاثیر
همېشه اسیرمرغه دي خوړل شوي
اوبنکې یې بالښت دخان اومیر
له لیندی داسارته چې څوک خلاص شي
بې وزروپه هواځي لکه تیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دزړه شکوه

ګلونه ډېردي ګلرخان نشته     دګلوخواکښې بلبلان نشته

نن داري شته دي سترګوردپاره     دسترګوروقدردان نشته

مطلب دپاره تک راتک ډېردي     مینه پالونکی آشنایان نشته

په باغ وبڼ کښې تازګې ګورم     تازه فکرونه نن زمان نشته

دلوبومنډومیدان جوړشوی     میدان دفکردجولان نشته

په ادیرو به ګلان راشنه شي     په مړوتاثیرنوردباران نشته

په خوله ډېرښه دی زړه یې ښه نه دی     ښه فکر نشته ښه ګمان نشته

مین په ګټه زړه شي دګټې     سنګدلان ډېردي موم دلان نشته

دزوراو زروغلامان ډېردي     دلته دزروصاحبان نشته

هوا هوس کړه خلق مریونه

آزاد هوس نه یوانسان نشته

# دژوند ډیوه

شپه دوصل وه مجلس ودیارانو

دمینو د دردمنو رنځورانو

دژوندون ډیوه دعشق په اور رڼا وه

دخلوت کورکښې دحسن تجلاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې کتل مې له کوم لوری پتنګ راغی
لوغړن او تلولی په غورځنګ راغی

ډېربېتا به وچې ځان ستې په اورکړي
سمدلاسه ځان په اوربانديې نسکورکړي

دتن پېټی له خپل ځانه کاندې لرې
کړي پيداځانته دروح نوري وزرې

کوم زړه سواندی ورته ویلی ګوره سوزې
ژوندون ښه دی په دنیاکښې یوځوروځې

دومره پاتې شه چې ووینی سباته
په رڼاورځ یوځل وګوری دنیا ته

پتنګ ووې زه مین په دې رڼا یم
له قدیمه په ډیوه باندې شیدایم

زما ژوند لکه ډیوه دځان سیزل دی
ځان ساتل له سوزېدونه مړه کېدل دی

ډیوه هغه وخت ژوندۍ وي چې بلېږي
مري هغه وخت چې له اورڅخه بېلېږي

زمونږ مرګ اوژوندله نوروفرق لرینه
له سیزلو نه نجات دی زمونږ مړینه

سوزوساز زندګۍ ښه تماشاده
بې رڼا اوسېدل مړینه اوفناده

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه دعشق له نوراوناره نه وېرېږم
دخلیل په شانی سرولمبوته لوېږم

# پسرلی راغلی

باغوانه زېری مې درباندې پسرلی راغلی

وخت دګلانواوموسم ډېرګلالی راغلی

داپه سحرکښې غوړېدلی دګلاب غوټۍ ده

که دښادۍ په ورځ دسروزروتالی راغلی

دغه شنې پاڼې دي چې ځان پکښې سوسن پټ کړی

که له جنته دخلعت ښایسته کالی راغلی

بلبله ګرزي خپل پردی باندې دازېری کوي

چې ګل ته ګورئ بیازماښایسته لالی راغلی

اوزي صحراته ښایسته جونی ګلانوپسې

دفرش دپاره غرو رغوته شنیلی راغلی

بیا د"الفت" اومحبت ناري بلبله وهي
په ګرمجوشۍ کښې بهارخومره بریالی راغلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دبهار فیض

پسرلی بیاراغی وطن ته له فیضانه سره
بیاېي راوری ډېرګلونه دي له ځانه سره

په یوه میاشت کښې ګوره حمل[1] په غوایي شي بدل
پسرلی دغسې کومک کړي له دهقانه سره

واړه جهان ګل وګلزارشه دبهارله فیضه
مینه پیداشوه دهرچاله دي جهانه سره

په غرو رغوکښې دګلانو چمنونه وینم
سل آفرینه په بهارله دي احسانه سره

دغوټی زړه په باغ کښې تنګ شه دصحراپه ارمان
ریدي دامان ته دي وتلي ارغوانه سره

زمکې آغوستی سرترپایه شنه جامه دجنت
ځکه سیالي کوي له شنه ډنډ داسمانه سره

چې شنه پټي سمسورباغونه دلته هلته وینم
دهقانه ستا دي کورودان وي له باغوانه سره

---

[1] : دپسرلی لومړی میاشت حمل او دوهمه ثورده چې حمل په لږ لفظي تغیرورغومی اوډګېدی بچی ته وایې اوثور دغوایې په معنی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دخزان سندره***

خزان راغی رنګ وبوی لاړه له ګله

څکه چېرته غلی شویده بلبله

داشني پاڼې ورځ په ورځ ګوره زېړېږي

سرسبزي اوتازه ګي يې وبايلله

پاڼې رېږدي لکه زړونه دخوارانو

دخزان سړه سيلۍ ولګېدله

زېړې پاڼې چې رېږي خو رالوېږي

څکه اخلي رخصتونه يوله بله

هغه پاڼه سيلۍ وړه کومې خواته

چې زما اوستا په سرسوری کېدله

او س کابل دخوارغريب ټاټوبی نه دی

ګذاره په دې هواکښې شوه مشکله

له کابله د خوارانوکډې ليږدي

ننګرهاره! ته اوس ښه يې له کابله

چې هرڅوک پناه دروړي په بده ورځ کښې

ته يې ساتې ديخنۍ له چپاوله

ستاوبه لکه غومبسې چيچل نه کا

ستا هواده بې آزاره معتدله

تاسالتلی تازه ګي اوسرسبزي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

دګل پاڼه دې خزان نه وژغورله
دګابل خوبان طواف ستادګلشن کړي

ګل دې اخلي خراجونه له وربله
بډایان دې هم هواته هوسیږي

درروان دې ګرنډیوکښې په ځغله
تل سمسوراوسه لغمان اوننګرهار

برکت اوخیردې زیات شه یوپه سله
زیړنارنج دې په شنوپاڼوکښې داوايي
په خزان کښې مې بهارګوره عاقله

# دمني خاطره

دخزان تابلوري څومره رنګونه
راشئ! وګورئ دزیړرنګ عالمونه
داچې باغ کښې طلایي رنګونه وینئ
که پوهیږئ خپل قیمت ښیي باغونه

☆ ☆ ☆

خزان راغی منظره دباغ شوه بله
ونوبوټوطلایي کړه جامه خپله
په طلاؤ کښې ډوب شویدي باغونه
په دولت مینه مه ګوره ورځغله

☆ ☆ ☆

ساړه راغله زیړي پاڼې راتوییږي
سوړتنور دغریبانوپرې تودیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ګرمۍ کښې که یخ سیوری دراحت و
په سړوکښې سره لمه ده چې بلېږي

☆ ☆ ☆

کله ګل کله مېوه وي په باغوکښې
کله سیوری کله اوروي په دېروکښې
کله پاڼې دي په کارکله لرګی
هرڅه شته دي دباغونو په کوروکښې

☆ ☆ ☆

# په وربل باندې ګرد

خاورې شومه نومې ځای پاس په وربل شه
له دې رشکه په ګلشن کښې مړاوې ګل شه
دلاله زړګی شه تورله ډېره غمه
له ناکامه دصحرالورته مایل شه
نرګس زیړشه له ارمانه شینکی باغ کښې
چې داځای وحق زما ولې دبل شه
آسمان هم له قهره شین شه چې داولې
په معنې کښې جګ له مانه یوپه سل شه
دعاشق بری په عجزاوپه نیاز دی
چاچې کړله سرلویی راته خجل شه
زاهدقرب غوښته په زوردعمل باندې
همدغه عمل دده مخکښې حایل شه
داخاکي تن چې چاخاورې کړپه عشق کښې
د „الفت“ په ژبه داسې وستا یل شه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دحسن جلوه*

په غروردحسن نمروخوت آسمان ته
ژرراپریووت چې یې ستا ښه بشرولید

دنرګس سترګې خوستا په لورکږې دي
په ګلشن کښې مې چې نن مازدیګرولید

نه تنهابلبل له عشقه ناقراردی
سرګردان مې نسیم هم نن سحرولید

دعشق دام دی هرطرف ته غوړیدلی
خوپکښې مې بندصاحب دنظرولید

په طلسم رانه حسن زړګی ویووړ
نازمکیزکښې مې دسحراثرولید

راخرګنددعشق قوت اوزورشه هله
چې محمود غوندې سلطان مې نوکرولید

دواړه وروځې یې لیندې باڼه یې غشې
مسلح مې نن دحسن افسرولید

لاربښودونکی که دعشق درته په کاروي
ما „الفت“ ددغې لارې رهبرولید

# ملت اومملکت*****

یوه باغ کښې وې ولاړې دېرې ونې
هره پاڼه یې لایقه دستاینې

خواپه خواغاړه په غاړه خوله په خوله وې
له یوې خاورې پیدادیوکاله وې

(c) ketabton.com: The Digital Library

له یوې ویالې اوبه ورته راتللې
په یوه هواکښې ټولې لوبېدلې
ددې ټولو یوخزان اویوبهار و
ښه اوبدې وشریک یویې واکدارو
ځینې جګې ځینې ټیټې کوزوپاس وې
لکه ګوتې دیوه وجوددلاس وې
چامېوه لرله چا ښایسته ګلونه
دچاسیوري و ډېرښه دچاقدونه
چنارلوی وشفتالو لکه ماشوم و
دمڼې اوناک توپیرله ورا معلوم و
له یوه سره لویې وه نورڅه نه و
بل سره رنګونه ښه خوندونه ښه و
دمرغانونغمې وې پکښې څورازه

هرمرغه موپېژانده له خپل اوازه
رنګارنګ ګلونه و یوه چمن کښې
لکه وي چې ولسونه په وطن کښې
هریوبوټی پخپل ځای کښې سربلندو
دباغبان سترګوکښې هریوارجمندو
په حقونوکښې یې نه وڅه توپیر
مالیاروپه هرې ونې ډېرزهیر
یوله بله یې په هرحال کښې شرکت و
په تمامه معنی یوصحیح ملت و
لکه باغ یوملکت وګڼه وروره
پکښې هرقسم ګلونه بوټې ګوره
ونې ډېرې خوباغ یودی که پوهېږې
که کوې بل رنګه فکرډېرغولېږې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه سکه ورونه لري بېل بېل نومونه
بېل رنګونه بېل غرونه بېل خويونه
مګر دواړه اوسېدونکی ديوکوروي
ديوې سترګې په کورکښې سپين اوتوروي

## لوی افتخار***

زمانه ړدي په هغه سردافتخارتاجونه
چې يې په سروي رسولی ډېرمشکل کارونه
په ډېري لويي قربانی پيداشي لوی حقونه
خوشې په خوشې هېڅوک نه ګټي درانه نومونه
کارونه ډېردي خوهرکار ګوره شهکارنه دی
له خپله سره تېرېدل څه اسان کارنه دی

سرورکول دخپل ولس دسرداری دپاره
داستبداد او استعماردبربادی دپاره
دحق ګټلو اودخپلي آزادی دپاره
دننګ ناموس دحفاظت اوسرلوړی دپاره
هغه ګران کاردی چې ښاغلي ننګيالي يې کوي
په آزادی مين ځوانان او توريالي يې کوي

مري عالمونه هره مړينه افتخارنه دی
دهرچا مرګ دشجاعت اوعشق يادګارنه دی
دېټنګ مرګ دمچ مېري مرګ غوندې خوارنه دی
په هيڅ مذهب کښې برابرحلال مردارنه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمنصورمرګ به ستایل کېږي په دنیاکښې مدام
په هرنظرکښې به حقیروي مرګ او ژوندد غلام

په ځان وژلوکښې ژوندون دنام وننګ وینمه
لوی افتخاردآزادۍ دپاره جنګ وینمه

دېره شانداره کارنامه په هغه درنګ وینمه
چې دمظلوم لاس دظالم په وینو رنګ وینمه

هلته چې ظلم، تجاوز، فرعونیت وي ولاړ
په مقابل کښې یې همت، ننګ وغیرت وي ولاړ

حقیقت تریخ دی مګرزه انکارکولی نشم
جهان مې ویني چې زه ځان قربانولی نشم
دپښتنو درانه نومونه ښه ساتلی نشم
دپنجابي مخکښې په برېتولاس وهلی نشم
دېرپورته ګورم چې دپلارنیکه یادګارته ګورم
دېرښکته ګورم چې خپل تېټ ژونداو روزګارته ګورم

اوس له پښتو نه دچاویره دچاډارنشته
هغه غیرت هغه هیبت هغه وقارنشته
په زړوتنوکښې یوتن هم فداکارنشته
ځکه په حق دپښتنو باندې اقرارنشته
هغه به څه وي چې خپل حق په چامنلی نشي
یادخپل حق دپاره ځان قربانولی نه نشي

په باجوړباندې راغلی څه بلاوینمه

له باجوړنه جوړه شوی کربلاوینمه

په پاک نامه دېره ناپاکه نارواوینمه

دبل په زورمسته مغروره مارشالاوینمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دباجوړپه کلی کورکه نن بمونه اوري
دباجوړیو په مړانه رحمتونه اوري
پښتونستان هم اراده داستقلال لري
دمراکش په شان په مخکښې لوی جنجال لري

لکه تونس الجزایردمظلوم حال لري
هغه مقصداوهغه فکرهغه خیال لري

خوپښتانه په قربانۍ کښې لېر نیمګړی وینم
دغه دتېروخت توریالی څه قدرستړی وینم

# ویده ګوجر

دسیندپه غاړه په شنه ورشوکښې
ګڼوځنګلوکښې په شنو دروکښې
یو دوه ګوجرومېښې پوولې
هریوه خپلې مېښې روزلې
نه یې بل کارونه نورغمونه
نه ورسره و نورنورفکرونه
تمامه ورځ به دمېښوڅارو
دشپې به هم لاویښ اوبېدارو
پس له خوورځووخت دلنګون شه
پام دګوجرو زیات له پرون شه
څوک چې ساتونکی اونګهبان وي
یوساعت خوب یې زیان اوتاوان وي
هغه هېڅکله نکړي خوبونه
غفلت لوی عیب وي له یوه شپونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوجرو ځکه شپې رونولې
شپې یې په ویښه سباکولې
وروسته دخوشپوله بیداری نه
ګوجرستومان شوه له بېخوبۍ نه
خوب ډېرغالب شه په دواړو باندې
لکه غلیم چې هجوم وکاندی
یوتن خوب وبووړنصیب یې خوارو
هغه بل ویښ و بخت یې بیدارو
د دواړومېښې وزیږېدلې
سپوږمۍ اوستورووړته کتلې
چې ویښ ګوجرکړې مېښ کتې ته تولې
له خپلومېښولاندې راتولې
څه یې چې تول کړه هغه یې خپل شوه
نرکتې واړه دهغه بل شوه
هغه چې ویښ شوسباله خوبه
وې لیدله دارنګه لوبه
تپوس یې وکړله خپل ملګری
دامې په برخه څه رسېدلی
داسې قسمت ته خوحیراني ده
دارنګه برخه نه آسماني ده
ملګری ووی چې خوب کوینه
مېښې یې نر نرکتې راوړینه
څوک چې پاسبان وي اوکړي خوبونه
ورپسې جوړشي بیامتلونه

## ناڅاپي کاني***

یوه ویلې ماپه عمرکښې آسمانه
چاسره بدنه دی کړی بې احسانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

احترام مې تل ساتلی دانسان دی

شفقت مې مدام کړی په حیوان دی

ښه مې کړی څوک مې نه دی آزارکړی

رانه خوښ دي همسایه اوټول وګړي

بدمې چاته کله نه دی رسېدلی

په درنه سترګه مې هرچاته کتلی

په دې حا ل کښې هم زه روغ نه پاتې کېږم

دتقدیرپه غشی بې ګناه لګېږم

یوناڅاپه راځي کانی له هوا

نلري دبې ګناهوڅه پروا

لویږي زما په سرله لاسه دتقدیر

په آزارکښې زما نه کوي تقصیر

بې سببه رسېږي راته ضرر

تصادف دی بېشعوراوبې خبر

ماکوم بدکړی چې وینمه جزانن

زه دچاله لاسه وکړمه ژړانن

بل پرې غږکړخبرنه یې له خپل ځانه

شکایت کړې له تقدیراوله آسمانه

تا به هم کله وي کانی غورځولی

یوناڅاپه به په چاوي لګېدلی

درپه یادکړه ټول جزیات دخپل عمل

دی دهرچاخپل عمل دلارې مل

کایناتوکښې دی پروت ښه انتظام

سنجیده دي دتقدیرواړه احکام

بې شعوره چې ونه ګڼې فلک

مقرردی هریوکارته یوملک

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې رسیږي درته هرڅه لړاوډېر
دهغه سبب وي پټ درنه یاهېر

ته یې بولې بې سبب اوبې علته
خبرنه یې دتقدیرله پټ حکمته

بدمدام درته له خپل لاسه رسیږي
اورله خپلې لمن شامدام لګېږي

ښه رسیږي درته تل له لویه خدایه
چې راضي نشې هېڅکله له همایه

ته پخپل عمل لانورهم نګران شه
دتقدیرپه کارو باندې نېک ګمان شه

چې سړی لړڅه په فکردتحقیق شه
خپلوټولوحرکاتوکښې عمیق شه

ورپه یادشوه یوه ورځ چې ده بې پامه
غورځولې ویوکانې له خپل بامه

یوناڅاپه ولوېدلی په چابانډې
چې ولاړوبې خبره تېرېټ دلاندې

همداکانې وهغه سړی ساتلی
له خپل ځان سره یې ډېروګرزولی

چې پرې واخلي انتقام له هغه چا
چې پې دی وپرې ویشتلی بې ګناه

لاس یې برنشوموده شوه ډېره تېره
قهریې سوړشوویلې ځه تېره په تېره

زه هغه ومه ویتشلی خوپه سهوه
ښه به داوي چې اوس وکړم ورته عفوه

نوېي کانې له خپل کوره کړګذار
خبرنه وچې راځي څوک په دې لار

(c) ketabton.com: The Digital Library

پري لګبري هغه څوک چې په خطا
خلق ولي اوځان بولي بې ګناه
دقدرت کارونه واړه دغه شان
په تدبیراوانتظام لري جریان
بې احتیاطه که څوک وکړي حرکت
که دی نه وي بل هم نه دی ملامت

له تقدیرسره شته هرقسم تلک
دمظلوم انتقام اخلي تل فلک
ته جزاله خپل عمل سره تله
که دې ولیدتفاوت وکړه ګله
ښه اوبدانسان ټول دی په حساب
بې سببه چاته نه رسي عذاب
مکافات وي له عمله څنې زیات
یوپه لسه لري اجرحسنات
خوجزا دبدونه وي تېټ وپاس
په احتیاط خوځوه دلته پښه اولاس
څه چې وکړي هغه به ربې تل
هرڅوک اوري په جواب کښې خپل ویل
داحسان جزابه وویني احسان
دبدی جزابه هم درکړي آسمان
نوردي خوښه چې اغزي کري که ګل
بې کرنې مه کړه طمع دحاصل
تفاوت لري حاصل کښې هره ځمکه
ته دي خپل زړګی دکردپاره ښه که
پکښې وکړه ښه تخم د"الفت"
نو به وویني له هرچامحبت

(c) ketabton.com: The Digital Library

له خپل خدای سره اخلاص په زړه کښې ساته
له مخلوق سره يې هم کړه مينه زياته

# ټګی اوريا

تادکوم فرعون دظلم سحرمات کړ
چې په لاس کښې ګرځوې ښکلی امسا
د کاغذ په ګل بلبلې نه ټولېږي
راشه پرېږده نورکارونه دريا
اورلګونی غوندې سوی اوتک تورېږې
اميدمه لره دخپلې زرغونتيا
ښه اوبدحق وناحق چې معلوم نشي
توره شپه ده ورته مه وايه سبا
چې له نوکه ترکوټيه ټول غرض دی
دانسان په نوم يادېږي څه بلا
خپله ګټه اوضررخيروشربولي
دانسان دقضاوت دغه معنا
انسان څوک دی زه يې دومره پېژنمه
چې حيوان نه بېلوي ځان په وينا

(c) ketabton.com: The Digital Library

حق ناحق کړي باطل حق کړي په ويلو

نوم پري کښيږدي درواا ونا روا

عقل ځه دی منطق ځه دی حکمت ځه دی

غول دي وه بول په هغه دا

کله خوښ کله غمجن کله حيران شم

دادنيا ده ګډه وډه تماشا

په حرامو ناروا سړی ته ورشي

ځه لولی اوبي حيا ده دادنيا

# عاقبت*

عاقبت به يې سيلاب داوښکو يوسي
چې خواران اوغريبان چاژړولي
نن سبا به داقبال له تيلی کوزشي
چاچې سترې اوستومانه ځغلولي
زمانه به يې دنورو خندنی کا
چې يې هروخت په خوارانو دي خندلي
شنه چمن کښې به په ګلو خزان راشي
بلبلان يې چې په باغ کښې کړولي
له دې خړآسمانه هروخت ږلی اوري
وري سيلاب دزماني واړه ښاغلي
دښايست بهار خو ورځې وي دنيا کښې
بيا له نازه را کوزيږي نازولي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې دهرهرخه تلوني دي پوهېږم
ځکه ماترېنه لاسونه دي وينځلي
هريوباغ چې راسپړلی دي ګلونه
دخزان سيلۍ فی الحاله رژولي
لمر، سپوږمۍ ددې آسمان په خوکرته
تيت وپاس خړاوروښانه ماليدلي
ځکه مازړه بل عالم پوري تړلی
دی دنيا ته مې په بل نظرکتلی

# زما حال*

تپه تياره ده زه رڼا ته انتظارلرمه — خومره ډېرکارلرمه
يمه پښيا بل اوپه لارکښې خنډوخارلرمه — بېره تلوارلرمه

ملګری تللی زه ويده پاتې ببدياکښې يمه — غره اوصحراکښې يمه
واړه سپاره دي يوزه پلی په شابارلرمه — يوګودی جوارلرمه

نورپه موټروکښې په منډه لکه برق تيرېږي — په لارکښې نه درېږي
زماپه مخکښې دی ګوډ خرتل خبردارلرمه — خدايږو ډېرعارلرمه

هرڅاپه برق باندې کوټه کړله توده اورڼا — هم راډيوپرې ګويا
زه لاتراوسه دتيلی په دکان کارلرمه — ورته جارجارلرمه

هريوميدان کښې دی ولاړکوي اظهاردکمال — اودخپل جاه و جلال
زه هيڅ شی نلرم په تېروافتخارلرمه — دمړوشمارلرمه

لاس اوپښې سترګې لرمه شم هرکارکولی — زياراوزحمت ويستلی
کسب وکارنکړم چې غني دولتمن پلارلرمه — پرې اعتبارلرمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دامیدرڼا*

نوی دوردی راغلی — یوه نوی رڼا وینم
دازوړحال نه پاتې کېږي — چې دوخت تقاضاوینم
توره شپه په ختمېدوده — رڼا یې دسبا وینم
نوی ژوندراځي هرګوره — نوی نوی هوا وینم

تحول دی چې رادرومي دافغان اوپښتون کورته
ښه موسم دتکامل دی ځئ چې ځودکمال لورته

زما نه راوړي هروخت کښې — نوی نوی پیغامونه
معلم دزمانې تل — راکوي نوی درسونه
دادنیا یوپوهنتون دی — شاګردان یې ولسونه
تا څه زده کړه له دې عصره — ای افغانه ای پښتونه!

امتحان دې ډېرنږدې دی چې به څه درنه جوړیږي
هغه ورځ ده اوس راغلې چې احوا ل دې معلومیږي

سوا ل دمرګ او دژوندپېښ دی — مګرستاپوهول ګران دی
ته لاپروت یې په تیاره کښې — نورسپوږمۍ ته ځي روان دي
داسې ژوندی ستا په برخه — چې نورتېول تري ګرېزان دي
لږ څه وغړوه سترګې — چې ته څه یې نورڅه شان دي

ستا په مخ کښې لاخره وینم ځاروی ځي له تانه واړندې

ستا رفتارکه همدغه وي خره به وخاندي دربانديې

# لمره!*

په سپین مخ دې دهجران شپه سباکیږي

په رڼا دې زمور مخه رڼا کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

باغ وبڼ ددې جهان په تاسموردی
بې له تادځمکې مخ چې ګورم توردی

نتیجه ستا درنېا زمونږ ژوندون دی
ستا نظام ته حیران شوی افلاطون دی

تاکتلی په تاوده نظردنیاته
داجهان دې ښایسته کړی دی هرچاته

زمونږ زړوکښې ایښی تادژوندګرمي ده
ورکه کړی تازمونږ هره خامي ده

ددې ځمکې هریوبوټې لوېوې ته
دباغوخامې مېوې راپخوې ته

لویول اوپخول ستا مشغولاده
ستااثر لاندې خدای کړی دادنیاده

سپینې واورې دې اوبه کړې غرورغوکښې
بیادی کړه روان رودونه په شیلوکښې

تادا ورځې کړې رڼا زمونږ دپاره
چې مونږ واخلوښه حاصل له خپله کاره

دا وطن دی ستامشرق ته زمونږ لمریې
ته په اصل کښې غټ ستوری دباختریې

ځکه دلته ستا تاثیرله بل هېواده
یوپه لس وینم زیات دژوندبنیاده!

پیداشوي په دې ځای کښې آرین دي
دپوهانوښه ځانګوهم داوطن دی

آبادي دبلخ هرچاته ده څرګنده
له زړو آثاروڅکه ده داکنده

نورومونږ ځنې اخیستي تل الهام دی
مونږ دېرمخکښې آباد کړی خپل باګرام دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

تالیدلی دی بامیان اوهډه دواړه

درته ګوري هندوکش په هسکه غاړه

خیرخانه ده که غزني که سرخ کوتل دی

منډۍ ګک اولښکرګاه روښان مشعل دی

وه زمونږ دیوه په هروخت کښې روښانه
دروېزه کړی هرچا زمونږ له خوانه

# دوطن ترانه

وطن دی کورزمونږ دسترګوتورزمونږ

اوبه یې دي لکه شودې دخپلې مورزمونږ

وطن دی کور زمونږ

دوطن خاورې دي زر، ترې پیداکیږي ثمر

دی نمک خوردې وطن پلاردی که مور زمونږ

وطن دی کورزمونږ

که یې آباد نکړو خپل ځان به ښاد نکړو

ددې کاله ده خرابې یولوی پیغورزمونږ

وطن دی کور زمونږ

په کاراوزیارد هرچا جوړیږي ښکلې دنیا

دوطن سترګې منتظرې دي په لورزمونږ

وطن دی کور زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

راشئ چې وکړو خدمت په ځان قبول کړو زحمت
کوي خدمت دخپل وطن ګاوندیان نورزمونږ
وطن دی کور زمونږ

راکوي مونږته وطن هرڅه چې غواړي بدن
آب ودانه ده دوطن قوت او زور زمونږ
وطن دی کور زمونږ

په مونږ حقونه لري هرراز پورونه لري
بایدچي داحق کړي اداوروي که خورزمونږ
وطن دی کور زمونږ

وطن محبوب دی زمونږ، وطن مطلوب دی زمونږ
که یې ونه ساتوله نورو،مخ دی تورزمونږ
وطن دی کور زمونږ

په دې هوا لویږو په دې مینا ستیږو
خدای دې مدام لري دا باغ وبڼ سمسورزمونږ
وطن دی کور زمونږ

# دافغان ترانه

تل دې سرونه زمونږ اوچت وي
تل دې ساتلي پت اوعزت وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هروخـــــــــت دې دلتـــــــــه شـــــــان وشـــــــوکت وي
ننـــــــــګ وغيــــــــــرت دې زمـــــــــونږ دولـــــــــت وي

دوطـــــــــن عشــــــــق دې وي زمــــــــونږ زړوكښــــــــې
ځـــــــــــاى دې دده وي دقـــــــــــــام ليموكښـــــــــــې

تــــل دې افغـــــان وي تــــل دې افغـــــان وي     بيــــرغ زمـــــونږ دې لــــوړ پـــه جهـــان وي

افغانســــــــــــتانه تــــــــــــل دې ودان يـــــــــــې
لـــــــــه غليمـــــــــانو دې پـــــــــه امــــــــان يــــــــې

تــــــه دې ســــــرلوړى تــــــل پــــــه جهـــــان يـــــې
زمــــــونږه ځــــــان يـــــې پــــــه مـــــونږه ګــــران يـــــې

هرڅـــــــــه بــــــــه ځـــــــارکړو ســـــــتا لـــــــه هوانـــــــه
ســـــــــــــتاله عزتـــــــــــــه لـــــــــــــه اعتلانـــــــــــــه

تــــل دې افغـــــان وي تــــل دې افغـــــان وي     بيــــرغ زمـــــونږ دې لوړپـــــه جهـــــان وي

پـــــــه حـــــــق مـــــــين يـــــــو د حـــــــق پـــــــه خوايـــــــو
دښـــــــــمن دظلـــــــــــم دنـــــــــــــاروا يـــــــــــو

آزادي ســــــــــــــــــــاتو آزادي ســــــــــــــــــتايو
ســــــــــرپه وطـــــــــن ږدو پـــــــــه ننـــــــــګ فـــــــــدايو

نـــــــه ظالمـــــــــان يونـــــــــه مظلومـــــــــان يـــــــــو
ښـــــــــاغلى نســـــــــل مـــــــــونږ دافغـــــــــان يـــــــــو

تــــل دې افغـــــان وي تــــل دې افغـــــان وي     بيــــرغ زمـــــونږ دې لوړپـــــه جهـــــان وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دیوالی ترانه

دیوه وطن اولادیو    تېرله سره په هېواد یو
دافغان په نامه یادیو    بختوریوچې آزاد یو

دا وطن دی په مونږ ګران
داوطن دی دافغان

په یوه نامه یادېږو    په یوه بېرغ ټولېږو
یوله بله نه بېلېږو    په یوه وطن ځارېږو

ټول منو دخدای فرمان
داموعهداوپیمان

آزادي زمونږ لېلاده    آزادي په مونږ شیدا ده
راسره لویه سودا ده    په لوی خدای زمونږ ویساده

ساتوخپل شرف اوشان
دوطن نام ونښان

# دمعارف ترانه

دجهل دوره تیره شوه  داعصردعرفان دی
بې علمه ژوندون ګران دی

په حق پسې روان یو    دعلم پتنګان یو    دجهل دښمنان یو

لښکردمعارف یولوږزمونږ نام ونشان دی
بې علمه ژوندون ګران دی

په زده کړه اوښونه    دحق کووپالنه    دخپل وطن روزنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ ګرانه وطنه داموعهداوپیمان دی
بې علمه ژوندون ګران دی

دعلم په ځانګوکښې دعقل په کوڅوکښې په غیږه دپښتوکښې

لوی شوي یومونږ واړه خپل وطن رابانديې ګران دی
بې علمه ژوندون ګران دی
روان مخ په رڼا یو مین په اعتلا یو دهرمرض دوایو

په لوردترقۍ ځو رهنمازمونږ قرآن دی
بې علمه ژوندون ګران دی

# دغیرت سندره

مونږ پښتانه یو دغیرت په ځای کښې سرورکوو هم مالوزرورکوو

دظالمانو جواب هروخت په خنجرورکوو ورته خبرورکوو

مخ ګرځول دجنګ میدان نه مونږ ته دین نه وایي ملی آیین نه وایي

مونږ خپلوتوروته دسرووینوجوهرورکوو اب دخطرورکوو

وطن ساتنه حق پالنه وظیفه ده زمونږ دافریضه ده زمونږ

دخپلواکۍ درس خپل اولادته مکرر ورکوو دغه هنرورکوو

سرورکول دخپل ولس دسردارۍ دپاره دآزادۍ دپاره

دپښتون کاردی ځکه لاس کښې توره سپرورکوو زړه زړور ورکوو

تجاوزنه کووپه نوروبـاداري نه کوو ستمګاري نه کوو

دښه سلوک امتحان هرچانه بهترورکوو په وطن سرورکوو

دآزادۍ دښمن چې هرڅوک وي ناښاددې وي خواروبرباد دې وي

مونږ دپنجرې اسیرمرغه ته بال وپرورکوو آزاد وزر ورکوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# استعمارچيان

جالونه شته دامونه شته بانښې لري تازيان لري
پښتونه ستا نيوولره مارشا ل دپاکستان لري

سيسۍ ولې هوسۍ ولې ورېِ ورې مرغۍ ولې
ددوی له دامه خلاص نه دي هغه سيندچي مايان لري

دوسپنوپنجرې لري قفس غوندې کوټې لري
له بې ګناه مرغانو نه بېشماره اسيران لري

غرڅه ترې تښتېدی نشي مرغه ترې الوتی نشي
هېڅ وارېې خطانه درومي پخې سترګې ښکاريان لري

که زانې په هواکښې وي که زرکې په خنداکښې وي
هېڅ رحم په چانه کوي سخت زړه لکه سندان لري

څه جا ل لاندې راغلي دي څه لوموکښې نښتي دي
ددوی له لاسه وينوکښې شتکی ډېرمرغان لري

نيول کوي وژل کوي په اورکباب کوي
وريتې مرغۍ په هروخت کښې په سر د دسترخوان لري

په هرپټې کښې وينمه صياد دام غوړولی دی
په غرونوکښې ليوان لري ښاروکښې قصابان لري

# علم او معنا

بې معنی کله پټېږي په لباس کښې
عيب يې ښکاري په تن پټ اوکه لغړدی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښایسته لباس په غاړه دبې علمو
که هرڅومره ښکلی ښکاري تش انګړدی
که بې علمه چاپکړی سپینه ترلی
چې دبحث مجلس جوړشي رنګ یې ژیړدی
بې کمال که لري مال هرڅومره ډېر
له احتیاجه نه خلاصیږي بل ته اړدی
که اغوستی یې پوټکی دسموروي
خلق یې پېژني له سترګوچې ګیدړدی
چې عالي فکري اولوړهمت څوک
باور وکړه چې له هرچاځنې لوړ دی
که په هرلباس کښې علم ځان ښکاره کا
د تعظیم او احترام دقدر وړدی
بحر ډک له مرغلروچوپ روان وي
دبې آبه خلقو خوی لکه دچړدی

# دپلار توره*

په چت کښې وینم زړه توره د پلار
دبابا ګانو اونیکونو یاد ګار
توریالی نشته چې څه کارترې واخلي
توره بې قدره شي چې نه وي تورمار
له تیکی ډېرعمروتلی نه ده
اوس له نظره غورځولی روزګار
آب وتاب نلري جوهرنلري
بې آبه ځکه شوه چې نه ده په کار
یو وخت یې ډېرشان وشوکت درلوده
تېره خنجرونوم یې وذوالفقار
دغسې نه وه چې دااوس یې وینم
په ډېروزړونوکښې یې ایښی و ډار

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غلـــــــــيم ســـــــــــترګه ســــــــــوزيده ورځينــــــــــــــــــې

پـــــه غزاګــــــانو کښـــــې يـــــــې نــــــه و مــــــدار

اوس دلرګــــی پــــه شــــان پــــه چـــت کښـــې ايښـــی

نــــه وينـــــي خـــــوب کښـــــې هغـــــه ليــــــل ونهـــــار

هــــــېڅ پـــــه کارنـــــه ده وخـــــت يــــــې لاړه تېرشــــــه

خوتــــــه يـــــــې بولـــــــه تـــــاريخي افتخــــــــار

چـــــې زمــــــانې نــــــه څــــــوک شــــي روســــــته پـــــاتې

شـــــــــي تـــــــاريخي افتخــــــــار دغســـــــــــې خــــــــوار

# نه ځي

درونــــــدوالی غرونـــــه ، پښــــــتونواله پښـــــتنونه نــــه ځـــــي

تــــوروالی شــــپو نــــه رڼــــاېي دلمـــــر شــــغلونه نــــه ځـــــي

دآزادۍ پــــه لارکښـــــې ســــــراوما ل کــــــه لاړشــــــي زمـــــونږ

مـــــــونږ پتنګـــــان يوپتنګـــــا ن بلوډيوونـــــه نــــــه ځـــــي

څــــو قرنـــه کيــــږي تـــــوره لاس کښـــــې د افغــــان وينمــــه

د تــــورې بريښــــااوس لــــه اشــــعارو د پښــــتو نــــه نــــه ځـــي

دپــــــلار نيکــــه څنــــګ کښــــې موتـــــورې معلقــــې وې تـــــل

دپــــــلار نيکـــــه تعلقــــات نســــل نمســــــونه نــــه ځـــــي

دبابـــــــــا ګـــــــــانو اونيکونـــــــــــو دلاس نښـــــــــــه ده دا

دتـــــــورې قـــــدر زمـــــــونږ ســــــترګواوليمونه نـــــه ځـــــي

د پخوانيــــــــو خـــــــوی عـــــــادت مـــــــونږ پريښـــــــودلی نشــــــو

د ښـــــکار عـــــادت د بـــــاز بابښـــــو د اولادو نـــــه نـــــه ځـــــي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلې لمبې زمونږ په زړوکښې که مړې شویدي اوس

بیابه تازه شي مړه اورونه له سکرونه نه ځي
بیابه اور بل کړو دظالم اوددښمن په خونه

دانتقام جذبه زمونږه له سینونه نه ځي

که په برهان اودلایلوفیصله ونشوه
غوڅه اوپرېکړه دچړوتوروله خولونه نه ځي

## ښکاري باز*

بازنیولی په منګولوکښې سیسۍ وه
خونړدوره مزه داره ښه مړۍ وه

چې یې راوړه خپل خاوندته سلامته
بې څه طمع بې احسانه بې منته

چاویل ورته چې ای بازه نادانه
څه لیدلی تاله لاسه دانسانه

چې په لاس کښې ورکوې پخپله ځان ته
ورته نیسې دهواپرندګان ته

ولې بل مرغه نیولی له غړۍ تا
ولې ورکړله انسان ته دامړۍ تا

تاپخپله ولې نه خوړه هواکښې
پاتې نشوې ولې دې لویه فضاکښې

له پنجو د بنیادمه چې شوې خلاص ته
څنګه راغلې ورته بیاپه ډېراخلاص ته

قدرت تاله درکړی لوی وزرونه
ستا پروازلاندې خدای کړی اوچت غرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپې او ورځې دې په ښکارشې تېرولی
پخپل واک آزاد ژوندون شي ته کولی

څه احتیاج لري انسان ته په نړۍ کښې
څه فایده لیدلې تا په غلامۍ کښې

چې له دې هسکې فضا را ښکته کېږې
دانسان حضورته خپله راتیېږې

پټې سترګې تارپه غاړه زندګي کړې
بل دپاره ښکارکوې خوشې خواري کړې

په کوم تاربانددې تړلی ته انسان یې
چې تابع دده دحکم اوفرمان یې

بازویل چې انس الفت دانسانانو
رابېل کړی یم له ډلې دمرغانو

اوس له دوی نه خپل زړه نشمه شکولی

داطلسم هېڅ وخت نشم ماتولی

په ځنګلو او غرو دپاسه پروازونه

ماپرې ایښی ده دپاره داسېلونه

زما فخردانسان په لاس ختل دی

خوښ زما دانسان کورکښې اوسېدل دی

زه خادم کړمه الفت دانسانانو

مقررکړم دوی قصاب دهمنوعانو

یوزه نه ډېرحیوانات ددوی تابع دي

په الفت ددوی قانع دوی ته راجع دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

فیل په دومره لوی وجود دوی منقاد دی
انس الفت یولوي سبب دانقیاد دی

اس دده په سورلۍ ګوره چې مستي کړي
اوښ دده په مخ کښې تیټ شي اوپستي کړي

په الفت سره تابع وحشي حیوان شي
ښه ملکری یوانسان دبل انسان شي

# زخمي زړه[1] *****

زړه یې مه بوله تورکانې دصحرادی
~~په لیدودزخمي زړه چې زخمي نشي~~

ولې وینې درنه څاخي ای زما زخمي زړګیه!
مرورله ټول جهانه ګله مه له خپل پردیه
بیا کوم غم درته پیښ شوی دفلک له بې مهریه
له یارانو نه جدایي که دښکلوله ټولګیه

چې بلبل غوندې کړیږې دسروګلوپه چمن کښې
خوشحالیږې نه هیڅکله ددنیا په باغ وبڼ کښې

څه ارماندافسوس لرې ته ولې شپه او ورځ ځوریږې
راته ووایه څه غواړې په څه باندې خوشحالیږې
په کوم ښکلي مخ مین یې که دچاپه غم کړیږې
له اسمانه دې زړه شین دی که انسان ځنې ویریږې

چې نه خوب نه دې خنداشته په نفرت ګورې انسان ته
مروریې له هرچانه په حیرت ګورې اسمان ته

[1] :: داشعر ددوهم عمومي جنګ داغیزې دردناك محصول دی چې په ۱۳۲۱ کښې په کابل مجله کښې خپورشو اوبیا دهغه وخت دډیلي دنن پرون مجله کښې نشرشوددې شعرینمه وروستی برخه په غوره اشعار نومی کتاب کښې راغلی ده او دلته په مکمل صورت واخیستل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له پیمخونازولو
التفات اووفاغوارې
که دنازنعمت خاوندنه
مروت اوسخاغوارې
یاپیاله له میوډکه
له پیمخې اشناغوارې
یاسازونه سرو دونه
یادمینې دنیا غوارې

دسکوت طلسم مات کړه راته ووایه احوال خپل
له هېچانه مه ویرېږه کړه ښکاره ارزواما ل خپل

ددردمنوپه حا ل ژاړې
که په کونډویتمانو
شپه او ورځ دې په غوروکښې
وي ژړاد مظلومانو
که داهومره ناقرارکړې
په فریادبې نوایانو
هرطرف نارې سورې
دغمجنورنځورانو

بې له غمه نورڅه نشته دشپوورځوپه لمن کښې
خوشحالي هرګوره نشته په هېڅ کوراوهېڅ وطن کښې

ژاړه ژاړه څودې توان دی
وخت دغم او دژړادی
یودبل غوښوته وږی
که آشناکه نا آشنا دی
انسان کله خبردارنن
په روا اوناروا دی
دوست دښمن نه معلومېږي
ورورد ورورپه مرګ رضادی

محبت له زړونوتللی رحم نشته په جهان کښې
عاطفه اوپېرزوینه نه ده پاتې په انسان کښې

توره شپه توره بلاده
که لوګی دغم داوردی
چې بل شوی په جهان کښې
ددنیاپرې سوی کوردی
یاخوتور رنګ دګناه دی
مخ دځمکې پرې تک توردی
یادغم توره کیږدی ده
یاجهان تورلکه سکوردی

دجګړواورونه بل دي پکښې سوزي عالمونه
رسیدلی ترآسمانه دهمدغه اور دودونه

محاذونه دجنګ جوړشوه
په هرلوری هره خواکښې
فولادي اسمان جوړکړی
طیارو پاس په هواکښې
دګولیو بارانونه
ځکه اوري په دنیاکښې
بې له سرووینو څه نشته
دشپوورځو په میناکښې

دسرووینوعکس پریووت داسمان په کناروکښې
فسادونه شوه برسیره بحرو برغرو او رغوکښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنیانه ده سره لمبه ده    پکښې سوزي عالمونه
په هرلوري هره خواکښې    لګېدلي دي او رونه
دآسمان لمنې سرې دي    ډک له اوره دي سیندونه
راشئ وګورئ عالمه!    په دیناکښې دوزخونه

له دې پورته شنه آسمانه سره اورونه راوربېږي
ستوري نه دي سورانګاردي چې اسمان کښې لېدل کېږي

دادنیا په حقیقت کښې    ژروونکې افسانه ده
که پخواشرابخانه وه    نن دوینو پیمانه ده
سورګلزارېې ډک له اوره    دبلبلواشیانه ده
په سینګارېې مه غولیږه    یاقفس یازولانه ده

پتنګانوته له باغه بلبلان وایي نغموکښې
مونږ په سره انګارکښې سوزوتاسې سوزئ په لمبوکښې

پتنګان په شمع سوزي    بلبلان بباغ کښې کړیږي
له آسمانه تندر اوري    لوی قصرونه رانړیږي
له دریاب دزمانې نه    بوی دوینو پورته کیږي
دمرګی دوری سترګې    په هیڅ شانې نه مړیږي

نن له مړوځنې ډک شوه دجهان لوی دریابونه
دانسان دمرګ دپاره اجل ایښی دي دامونه

ددنیا مزاج بدل شو    رحم نشته هیڅ په زړوکښې
یاخوزړونه ببخي نشته    ددې خلقوپه سینوکښې
دمرګی زهر خواره شوه    دهوا څپووږموکښې
پخواني تاثیراوس نشته    نه په خاوره نه اوبوکښې

دشبنم په ځای په ګلوله هوا اوري بمونه
دخپل زره په وینورنګ شوه ښایسته ښکلي مخونه

ددې عصرانسانان اوس    لیوني لکه لیوان شول
یودبل وینوکښې لامبې    میخواران اوس خونخواران شول
دریابونوکښې پیدانن    دفولادونهنګان شول
دخوري مری دپاره    پخلا سپي اوفقیران شول

دیوسف په وینو باندې دلېوه منګولې سرې دي
تمدن په لاس ورکړی فولادې تېرې چړې دي

دجګړواوجنګ میدان کښې    دې دتندرآوازونه
رڼا ورځ په توره شپه ده    لیده نشې آسمانونه
دفولادو رسالې دي    که دسره اورسېلابونه
ځمکه رېږدي له هیبته    چې پرې ګرځي لوی ټانکونه

نن دځمکې په مخ باندې بل آدم بله حوا ده
دخولوپه ځای دوینو تویول یې مشغولاده

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې پردې اوبې سیرته　　عالمونه دجهان شوه
ځوک له لورې هلاکېږي　　ځینې کونډې یتیمان شوه
هیوادونه نیول کېږي　　ولسونه اسیران شوه
ځینې پریوتل له تخته　　ځینې ځینې تاجدارا ن شوه

جوړقیامت دی په دنیاکښې خوحساب اوکتاب نشته
بې له غوښودانسان په دې اور بل کباب نشته

هرطرف ته چې نظرکړې　　دنفاق اورپکښې بل دی
پلارپه ځوی دی بدګمانه　　وروردبل وروره ل ته غل دی
دوه خواره یاران چې ګورې　　یوه بل ته ایښی چل دی
دحسداور په هرزړه کښې　　ته به وایې چې منقل دی

دامتل مې اورېدلی چې خرپلارکړه خپله چارکړه
ددې وخت داپلارګلوی ده فکروکړه ځان هوښیارکړه

هرسړی مطلب اشناشو　　دا دنن ورځې عادت دی
نه ولاړځوک پخپل عهد　　نه خجل په خیانت دی
ځویې لاس برنه وي دوست وي　　چې لاس بر شي بل حالت دی
ځوک په دروغونه شرمېږي　　دا عجیب خوی و خصلت دی

دمطلب دپاره کاندې سل وعدې سل قسمونه
مالیدلی دی په سترګودغه هسې شان عهدونه

بې له زوره په دنیاکښې　　بل قانون کله چلېږي
نقشه هره ورځ دځمکې　　په قوت او زوربدلیږي
چې قوي اوزورور دې　　پخپل حدکله درېږي
یووطن په زوراوجبر　　بل وطن سره ګډېږي

ضعیفان شوه پښولاندې زورورځکه اوچت شوه
واړه لوی شوه لوی واړه شوه ټول حیوان ددې حکمت شوه

ښه خبرشه زما وروره　　ددې عصرله احواله
بې له زوره په دنیاکښې　　زندګي شوله محاله
ضعیفان خلاصېدای نشي　　دفرېب مکرله جاله
بې له توري خلاصی نشته　　ظالمانوله جنجاله

باشرفه ژو ندون کاندې چې له مرګه نه ویرېږي
مال وسریې په امان وي چې له خپل سره تېرېږي

که آزاد ژوندون دی خوښ وي　　تېنګ په ننګ ناموس اودین شه
اوراوبوته غورځوه ځان　　فولادي اوآهنین شه
ښې تېرې پنجې پیداکړه　　لکه بازاوباشاهین شه
نه وایمه چې بلبل شه　　یاتوتي غوندې رنګین شه

ځیرپښتون شه دامتل دی ځنګه غرهسې کربوری
کړه سرې اوتودې تېرې داتعلیم کړې ژمې اوری

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتونواله نام ونګ دی    ننګیالی اصیل پښتون دی
ځان وژل دننګ دپاره    دپښتون سړی ژوندون دی
سربازي زمونږ هنردی    توریالی موافلاطون دی
فیصله دتیغ په ژبه    دپښتورسم وقانون دی

چې په توره مري شهیددی هغه نه بې پردې کیږي
چې بې تیغه وي مړشوی په تخته باندې لوځیږي

توره حق اوحقیقت دی    شریعت پرې رڼا کیږي
توري شپې دولسونو    بې له دې نه سباکیږي
همدغه شرف یې بس دی    چې په توره غزاکیږي
دظالم اوخدای ناترسه    ورنه خوف اوحیاکیږي

توریالیوپه حضورکښې سرټیټ کړی افلاطون دی
دتیرې تورې په خوله کښې دیوه ملت ژوندون دی

تمام عمر تیره توره    په دیناکښې حکومت کړي
په هغودې تل رحمت وي    چې قایم پرې عدالت کړي
یاویستلی توره لاس کښې    حفاظت دملک ملت کړي
دمظلوم انتقام اخلي    په ظالم قهرومنت کړي

توره ښه ده ډیره ښه ده چې په لاس کښې دانسان وي
هسې نه چې په منګول کښې دلیوه یادشیطان وي

ظالمان په تیره توره    په ناحقه خونریزي کړي
چې بې دین په هاتي سورشي    دکعبې بې حرمتي کړي
دمومن په لاس کښې توره    داسلام نګهباني کړي
حق پرست چې قوت مومي    دخوارانو دلداري کړي

بل دتورې اهل نه دی داوسله دمسلمان ده
وسیله دحق پاللواودنشردقران ده

په قوت دتیرې تورې    له کعبې بوتان وتلي
بت شکن مسلمانان هم    سومنات ته رسیدلي
حق پالونکوتوریالیو    خلق حق ته رابللي
دلوی خدای واړه احکام یې    په دنیا باندې منلي

عبادت په توره خدای ته زیات له هرراز عبادت دی
دخپل سرورکول وروره خدای دپاره لوی طاعت دی

ترقي اواعتلاخوک    که دقام اوملت غواړي
په وطن اوپه ولس کښې    که ښه نوم اوعزت غواړي
یاددین اودنیا کټه    یاله خدایه جنت غواړي
تول په توره کټل کیږي    خوتینګ عزم وهمت غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

که جنت (۱) دچاپه کاروي توري لاندي يې مکان دی
آب دتوري بل شی نه دی همدغه آب حیوان دی

په دنیاکښې چې تېرشوي ... تردي وخته فاتحان دي
سکندرکه ناپليون دی ... که مغل اوکه غوريان دي
شاه محمود که احمدشاه دی ... غزنویان اوکه سوريان دي
له مشرقه ترمغربه ... چې هرځه جهانګيران دي

ټول د توري په زښا کښې خپل مقصد ته رسيدلي
ډير تختونه ډير تاجونه توري يو بل ته بښلي

ته ويده وي په ځانګوکښې ... هيڅ خبرنه وې له ځانه
نه له جنګ جګړوخبروې ... نه له شرودجهانه
دوست دښمن خپل اوپردي ټول ... ستانظرکښې ويکسانه
ستاپه سرباندې دپاسه ... مورکړه توره آويزانه

په هغه وخت کښې يې ته لاتېره تېغ لاندې ساتلې
فکروکړه څه دپاره خپلې مورداسې روزلې

که پوهيږې زما وروره! ... دهمدې ورځې دپاره
پښتنه موردځوی سرته ... ږدي تل توره جوهرداره
توره ستامال دی پښتونه ... درته پاتې له خپل پلاره
پښتانه ځوانان خوندداخلي ... دتېروتورولـه واره

بې دتوري له سپين مخه په بل مخ چې مين نشي
ستا به فرق له خاروی څه وي که قربان په وطن نشي

دوطن په نام وننګ تل ... سرورکړی هرپښتون دی
له ښاغلوپښتنونه ... مونږ ته پاتې داقانون دی
چې دننګ ناموس دپاره ... ځان وژلوکښې ژوندون دی
دخوشحال په ترانوکښې ... ماليدلي دامضمون دی

„مړنې دي چې يادیږي په سندرواوپه وير“
دهرنشي وركولي دتېري توري تاثير

لکه غرپه هسکه غاړه ... له آسمان لاندې اوسیږه
که زلې اوتندراوري ... له خپل ځايه مه ښوريږه
بې له خدايه بل له هیچا ... اوله هیڅ شي مه ويريږه
په سخت زړه ددښمن مخ ته ... ځای په ځای ټينګ ودريږه

(۱)الجنة تحت ظلال السيوف

(c) ketabton.com: The Digital Library

فولادي زړکی اوتوره ده په کارد ژوند دپاره
پښتانه ځوانان خونداخلي دتېروتورولو واره

واوره! واوره !ا ی پښتونه — دپښتون شاعر شعرونه
داچې اوري ثه له مانه — دي دسوی زړه آهونه
نورثه نشته په دي زړه کښې — واړه دي داستاغمونه
دازخمي زړه ستاله غمه — راشه وګوره پښتونه

دپښتون بیرغ اوچت کړه ترلمنودآسمانه
خوشحا ل خان ختک خوشحا ل کړه پخپل قبرکښې له ځانه

پښتونواله که پښتوده — که اسلام اودینداري ده
تقاضادزماني ده — اوکه پوهه هوښیاري ده
دپښتون عالي فطرت دی — که غیرت ایمانداري ده
ددې تولوای پښتونه — تاته دا امیدواري ده

چې ته بیاکړې غېږه وازه استقبا ل دتېرشوکت ته
ثوقدمه وړاندې واخلې خپل راتلونکې سعادت ته

ثه به ښه وي لویه خدایه — که تېرشوی دوران راشي
دپښتون باباپه لاس کښې — درست پښتون اوافغان راشي
بیاهماغه شپې او ورځې — دپښتون په جهان راشي
په هماغه زړومېنو — بیازمونږه کاروان راشي

دادعاپه ثوثوواړودخپل زړه په کوه طورکښې
ماپه نیموشپوکښې کړی دپاک خدای په لوړحضورکښې

په هرزړه کښې بیل بیل قسم — امیدونه اواسرې دي
ثوک دښکلوښومخونو — امیدواردننداري دي
دچاماا ل اودولت خوښ دی — په دنیایې سترګې سرې دي
چادبل مقصددپاره — سنجولې ثه چارې دي

له هغوزړونوځاریږه چې پکښې لوړه آرزووي
ثه چې ښه ورته ښکاریږي پخپل قام دده پیرزووي

ښه خبرپه دغه رازښه — ی زما دسترګوتوره
چې یوازې په دنیاکښې — ژوندون نه کیږي هرګوره
هرپیغام چې یوغوړاوري — بل ته هم رسیږي وروره
دیوازې ځان سوداته — وباسه دزړه له کوره

ته یې ناست هغې بېړۍ کښې چې پکښې افغان پښتون دی
ستاسو هرثه سره ګډدي که مرګی اوکه ژوندون دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته اونورپښتانه واړه   په یوه ژبه ګړیږئ
په یوه نامه هرکله   اوپه هرځای کښې یادیږئ
دیوه پښتون په ښه نوم   سرترسره ټول نازیږئ
ددښمن اودوست نظرکښې   لکه یووجود ښکاریږئ

چې پردوله یوښکارئ همدغه مودی یو والی
نوک اوری کله بیلیږي نشته تاسوکښې بیلوالی

غم مویوښادي یوه ده   په رګوکښې یوه وینه
زه اوته دیومخ سترګې   خلق موبولی ښی اوکینه
دواړه یوشانې غریږو   مرودیووجود په مړینه
اختلاف دنظرنشته   چې موجب دبېلتون شینه

سپین اوتوردیوې سترګې کله یوله بل بیلیږي
په بېل رنګ کله دوه ورونه یوله بله پردي کیږي

راشئ ای پښتنوورونو   یوله بله به ځاریږو
دپښتون دژوند دپاره   به هریوله سرتېریږو
خوشحالي به مویوه وي   په یوه غم به ګړیږو
په نامه دپښتنوالي   به مونږ واړه قربانیږو

یوه ورځ به داسې راشي چې پښتون واړه راټول شي
لر اوبرپښتانه واړه بېرته یوکوراوکهول شي

دازخمې زړګی به روغ شي   دغلیم زړه به زخمي شي
دا ارمان به له زړه ووزي   له غمونه به خالي شي
د الفت خواړه اشعاربه   پښتنوپه خوله جاري شي
پښتنې دنیابه جوړه   کورپه کوربه خوشحالي شي

څوک چې زړه لري هرکوره پکښې هیله اواسره ده
دا آرزوله ډېره وخته تردې وخته راسره ده

# دشاعرنظر**

زه یې پېژنم شاعر دی بل څوک نه دی

چې دالوی جهان وړوکی ورته ښکاري

د وریښمواو زربفتو ښایسته ټوکی

دنادان په تن زړوکی ورته ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

طوفاني درياب ګڼې دمظلوم اوښکې

ددنيا بحرډنډوکی ورته ښکاري

چې خپل نفس نشي وژلی که سل وژني

نا توانه ويرندونکي ورته ښکاري

ددنيا فاني عيشونه نعمتونه

دسپي مخکښې پروت هډوکی ورته ښکاري

# څه ګورم***

ګورم جهان کښې څوک کعبه ځينې بوتان جوړوي

غلطه پوهه له سړی څنې شيطان جوړوي

دسړوکاردی چې دخپل وطن کارونه کړي جوړ

جونه اوپېغلې سينګارونه کوي ځان جوړوي

تهذيب ضروردی نظافت اوښه لباس دی په کار

فېشن چې زيات شي له ځلموبازينګران جوړوي

دودانۍ اميدله هرچانه کېدلی نشي

له خاوروګټونښه کورونه معماران جوړوي

چې انساني رښا پيداشي په مغزوکښې دچا

هغه کوښښ کړي په عالم کښې انسانان جوړوي

ډېرتفاوت شته په انسان کښې دمعناپه لحاظ

واړه مشغول دي ځينې ځان ځينې جهان جوړوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غریب ماشوم***

دغریب کاله ماشوم دی هرهلک یوځل وهلی
نازېي هېڅ نه دی لیدلی په ژړاکورته راغلی
چا اخیستی غېږکښې نه دی له سپېروخاورونه کله
کوروکلي کښې بې قدره خوار وزاردی اوسېدلی
ګلالی ځیرک هلک دی کړي خوړې خبرې
خودخان ملک ځوی نه دی چې په خلکووي منلی
بې له خپل پلاره بل هېڅوک ورته نه ګوري په مینه
دغریب سړی اولاددی چالانه دی پېژندلی
التفات ورته هېڅ نشته ددې ځای لکه چې نه وي
لاره نلري مجلس ته لري ناست دی هلته غلی
په مکتب کښې لیده نشي مدرسې ته یې پرېږدي نه
لاتراوسه معلم ته یاملاته نه دی تللی
رئیسانو حاکمانو ورته هېڅ نه دی کتلی
دلویانو مجلسوته کله هېڅ نه دی ورغلی
په زړه خواره جامه کښې دلته هلته غلی ګرځي
کبرجن هواته ګوري چې یې هېڅ نه دی لیدلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوشاعرورته په مینه محبت هرکله ګوري
دبل چاپرې نظرنشته ورته نه ګوري ښاغلي

زه یې نوم درته اوس ښیم ته ښه فکرپکښې وکړه
دلته فکرهمدغسې له نظره دی لوېدلی

## خوارحسن***

په زړوجاموکښې ماولیده حوره
دبدرنګې مېرمن لاس لاندې مزدوره
په ښایست کښې لکه میاشت وه نوراني
په ښه خوی کښې پرښته وه آسماني
په نسب وه له هرچانه معتبره
په حسب باندې مېرمنونه بهتره
نه په وهیږم تقاضاوه دآسمان دا
اوکه خوی یاطبیعت ودانسان دا
چې داهسې شان بشره ښایسته له لمره
غورځولی زماني وه له نظره
دیوسف دغلامۍ یوښه نظیرو
په رښتیاچې دهمدغه خوب تعبیرو
راته ویلې یې دحا ل په ژبه باندې
غریبي په سړی هسې چارې کاندې
قیمت نلري ښایست دمزدورانو
نه ښه خوی لره څوک ګوري دخوارانو
خدای راکړی ښه صورت ښکلی سیرت دی

خودخوارحسن لره قدرلږ قیمت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

په زړوجامو کښې څوک نه لیدل کیږي
حقیقت زاړه لباس کښې رټل کیږي

ډیرزماپه څیرښایسته ښکلي ښاغلي
مدام وینځي دپردوکالي ناولي

بل شی نه دی عاجزي اوغریبي ده
چې په بد نظرکتلی هرسړي ده

هنرونه پټ وي دانانو
خاورې منږي په مخ باندې دخوارانو

ښه اشخاص زاړه لباس کښې وي بې قدره
بدسړی په ښه لباس شي عالیقدره

ډیرښه خلق په دنیاکښې خواروزارشته
بدایانوکښې ډیرخلق بدکردارشته

پام کوه ! په سپین سپیڅلومه غولیږه
بې پرواله خاکسارانو مه تیریږه

په جنډوکښې ښه ښه خلق مالیدلي
دخوارانو په جاموکښې وي ښاغلي

چینجی اوسي دوریښمو په قباکښې
پټ مخ ګرځي ریاکار سپینه رداکښې

دیوسف څیروجاموکښې څه ګناه ده
ښه لباس کښې چې ګناه کړي زلیخاده

راځئ! څیري کړو دانښې جامې رنګینې
پکښې وګورو څیرې ډیرې ننګینې

# همدردي

ژاړي په غمونوکښې خواخوږی له هرچاسره

سل پتنګان سوزي دیوې شمع ژړا سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډک زړګی له اوښکو ګرځي ورېځې په آسمان کښې بیا

څه ژړاملګري ده دژوندیوې برېښناسره

تول باغ ژړېدلی ځکه اوښکي دي ډګل په مخ

ډېرلکه لا له داغلی زړونه شته صحراسره

نه ښایي انسان ته چې دبل په غم غمجن نشي

لویه بدبختي ده که څوک نه ژاړي له چاسره

داسې بې غمي دي خدای په هېڅ کورکښې پیدانکړي

یوکورکښې چې ویروي اوبل خاندي له لیلاسره

# حسن او نظر*

دړانده بډای په کورکښې ښایسته ښکلی لیلاوه

دنظرخاوند څوک نه و، بېهوده یې تجلا وه

ډېوه بله وه دحسن مګرعشق ورسره نه و

بې پتنګه سوزېدله شمع ځکه په ژړاوه

دسپین مخ اودسروشونډوتوروزلفوتوروسترګو

څه قیمت اوقدرنه و، زړه کښې مینه ددنیاوه

دښایست نوی بهارو، دګلزارجوش اوځواني وه

بینایې د ذوق هېڅ نه وه په بل ډول مشغولاوه

دګل لورته کتل نه و، بهارخوشې تېرېدلو

دمیووانتظار ډېرو دمادي ګټې سوداوه

دښکلا مېرمن خپه وه، دجمال څه قدرنه و

بصیرت ته وه محتاجه په نظرپسې شیداوه

مال دولت له حده تېرو، واک یې خپل وهرڅه ډېرو

مګردادتش کتلو اوشعورپه تمناوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

علم وفن هنراوشعربينا ذوق اوشعورغواړي

که په نيمه څوک پوهيږي دليلی دغه معناوه
دمعناروح تل خپه وي دړندوناپوهوکورکښې
عرفاني نهضت مه غواړه! جامعه کې نابيناوه

## بڼای*

يويې لوی بولي هغه بل ورته وروکی وايي

خپټه يې لويه اوککره يې وره ده ډېره

غله يې ډېره مال يې ډيردی هرڅه ډېرورکړه

مزدوران وږي دي يوه بي مړه ده ډيره

کوټه توده ده تشناب تودددی تنورتودوي مدام

هرڅه تاوده دي دکدابرخه سړه ده ډېره

دده له کوره هغه وخت خيروخيرات راوزي

چې تناره کښې خڅېدلی تړې پېړه ده ډېره

کوريې دی نوی کالي نوي دي موټرنوی دی

فکريې زوړدی خيال يې زوړ ارزو زړه ده ډيره
په يوه سوی مړی خدای نه جنتونه غواړي
له ده سره د آخرت سوداوره ده ډېره

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماشوم*

چې نوی ګل دپسرلی ددې دنیا ومه زه
چې پاک له هرراز خیانت اوله ګناه ومه زه
زړه ته نزدې دخپلې مورغیږکښې مې ځای درلوده

دسترګوتور دزړګی سردخپل بابا ومه زه
جاروقربان به مې سل ځله په یوآن اوربده
لایق دمینې هغه وخت کښې دهرچاومه زه
دپېغلوجونولوونګین سره مې لوبې کړلې
لاس به مې اچاوه ګرېوان ته بې پرواومه زه
خپل اوپردی به په نظر دمحبت لیدلم
په حقیقت کښې دتمام کلی لیلاومه زه
په ډېروسترګوکښې مې مینه دخپل ځان لیدله
په زړه کښې ګران دډېروخلقوپه رښتیاومه زه
رمووزدمينې راته موريه يونظروښووده
له ګړېدلومخکښې پوه په دې معناومه زه
چابه چې ډېرپخپلې غېږکښې اخیستم په مینه
په تش لیدو به یې خوشحال اوپه خنداومه زه
که لږ نظرزما دهغه وخت ژوندون ته وکړئ
دموريه غېږکښې محبت سره اشناومه زه
که هرڅه هېرکړم عشق اومینه هېرولی نشم
سترګولیدلی محبت له زړه ویستلی نشم

# غزل*

چاچې اینښې داشین خال ستاپه جبین دی
زما زړه هم دهغه له لاسه شین دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا امېل کښې يې سل زړونه دي پيیلی

چاجوړکړی ستا دغاړې لونګين دی
جوړه شوی يې دلمرله پلوشونه
ستادعشق پرحرارت مې دايقين دی
سورسالودې سره لمبه ده نه پوهېږم

که زما دزړه په سرووينو رنګين دی
دجمال پرښتې ته چې جوړولې
ورلېږلی چاسلام چا آفرين دی
معجزه ته دقدرت اودخلقت يې
په رښتيا چې خدای احسن الخالقين دی
خدای دې ساته په امان له بدوسترګو
دادعا دپرښتوزمونږ آمين دی

## دنازمېرمنې***

وروردې خواري اومزدوري کوي له پلاره سره

تاپه مستۍ کښې امېل وشکاوه له ياره سره

موردې مېچنې ګرزوي خوردې منګې ډکوي

ته سورپېزوان غواړې دسروزروله هاره سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده غريبي خواره خواري كوركښې څه نه دي پاتې

مه كوه لوبې له درهم اوله ديناره سره

دلته دښځو په سرخاورې دي دنازمېرمنې

تايارانه ده اچولى دنيا داره سره

خبره نه يې ستاپه خويندوميندوڅه تېرېږي

ستاسروكاردى تمام عمرله سينګاره سره

زمونږ له حاله ځان خبركړه په مونږ زړه وسيزه

دتن جامې سوزي زمونږ ستاله سيګاره سره

عيش وعشرت دومره ډېرپرېږده دوطن مېرمنې

مينه پيداكړه دخپل كورله كسب وكاره سره

يوزړه په لاس كښې ونيسه نورزړونه مه ځوروه

مناسب نه دى داخويونه له دلداره سره

په سراوما ل چې دوطن خدمت ته نه وي تيار

مه ګوره هيڅ دهغوخلقو له ربياره سره

ورسره مه خانده!چې خاندي په خوارانوباندې

دنازخنداكړه دوطن له خدمتكاره سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په ليلى پسې ځم*

مکږه په ماهسې ګمان چې په دنيا پسې ځم

له خانقانه رابهرشوم په ليلاپسې ځم
چې دآشناقدرکوي هغه جانان لټوم
نه يم هغه چې به هرځاى ته په هرچاپسې ځم
لوى اوواړه نه پېژنم يم دماشوم په مثال
څوک چې کړي مينه راسره هغه لالا پسې ځم
سرته دبام يمه روان دلوېدوډارنه لرم
نه راستنېږم دسپوږمۍ سپينې رڼا پسې ځم
زړه مې هلک دى دپردۍ باغچې ګلونه غواړي
ددنيا غل مې مه ګڼه دګلوغلاپسې ځم
چرګوړى نه يم چې دانه پسې له کوره اوزم
لکه بلبل دګل په لورى په بوراپسې ځم
له فرعونانوځنې تښتم دمولاپه طرف
دغرونوسرته دحق نوراوتجلاپسې ځم

# څومره به ښه وى

چې په سپين مخ دې زلفې خورې وي
سترګې دې تورې شوندې دې سرې وي
زه يم اوته يې نازونخرې وي
څومره به ښه وي، څومره به ښه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې زه حیا کړم او ته شوخي کړې
زه جرئت نکړم خوته مستي کړې
شې مهربانه اودلداري کړې
څومره به ښه وي، څومره به ښه وي

چې مې حیاشي لږ غوندې لرې
زه درنږدې شم ته وایې لرې
درته شروع کړم دعشق سندرې
څومره به ښه وي، څومره به ښه وي

چې ستا په غاړه وي امیلونه
زه دې وربل کښې ږدمه ګلونه
ته راته وایې دزړه حالونه
څومره به ښه وي، څومره به ښه وي

چې درته وایم په مایې ګرانه
له ټول عالمه له درست جهانه
ته وایې نه یم دومره ارزانه
څومره به ښه وي، څومره به ښه وي

چې شم بېخوده اوهرڅه وایم
ډېره دې زیاته له حده ستایم
ته راته وایې چې زه خوستا یم
څومره به ښه وي، څومره به ښه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څه یم*

زه بل څوک نه یمه اولاددغریبانویمه

سکنی وروردعاجزانو دخوارانو یمه

یمه له خاورونه پیداخورمه له خاوروپیدا

دلاس نیالګۍ ددې غریبودهقانانویمه

ماته آغاماته بادارماته صاحب مه وایه

ډېرویرېدلی له نامه دصاحبانویمه

چې ورته بل نیسي اوبه نوریې بې آبه غواړم

وینوته تږی زه دداسې بادارانویمه

دبل زحمت کښې چې خپل ځانته راحتونه غواړي

دسردښمن ددې بې رحمه ظالمانویمه

زما په زړه کښې دبل چامحبت مه لټوئ

زه دخوارانو دډېوولو پتنګانویمه

چې شپه او ورځ په خوارغریب خپل خدمتونه کوي
ددوی خادم نه یم خادم دخادمانویمه

# زما ګناه***

نه مې دچامال خوړلی نه مې څوک وژلی دي

نه مې چاته ورک شه یاګم شو! کله ویلي دي

نوره ګناه نلرم په دې ګناه مې مه نیسه

زړه کښې مې چې پټ ظالم ته بدغوندې کتلي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت داعتراف دی ګناه خپله درته وایمه

نه یمه منکرپه مظلومانومې ژړلي دي

داګناه دسترګو که دزړه ده نه پوهېږمه

بدمې چې لیدلی خدایږوبدمې هم ګڼلي دي

نه ومه خبرپرده مې لېږ غونډې چې جګه کړه

نه دي دویلوهغه څه چې مالیدلي دي

زه یې په لیدلواو ویلوګناهګارشومه

نوریې په کولواوعمل باندې ښاغلي دي

نه یمه خاین په خیانت دنوروپوه یمه

پوهه که ګناه وي خلق ټول اوس پوهېدلي دي

داچې دېرکاره درته ولاړدي ټیټ سرونه هم

ستا مخکښې چې سم نشوه سم کله چلېدلي دي

هېڅ امیدتړې مکړه که څوک ځان دتاغلام ګڼي

ماغلامانه ذهنیتونه پېژندلي دي

لوړمقام ته رسې چې بوټونه پاکوي دبل

ډیرپه دغه شغل ریاست ته رسېدلي دي

## زما خوب*****

وربل یې ماپه خوب کښې پریشان لیدلی دی

ستابخت خومې رقیبه دغه شان لیدلی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دګلوهارپه غاړه محبوباشوه راحضوره
بلبله دا وطن مې ګلستان لیدلی دی
کارغان به پکښې نه وي بلبلان به پکښې وي
باغونه به سمسوروي ماباغبان لیدلی دی
داتوره شپه به خدای کاندی په مونږ باندې سبا
سپین مخ مې چې سباغوندې روښان لیدلی دی
تعبیرې کړی ما، په ظالمانوبه چپه شي
چپه کاکل مې خوب کښې دجانان لیدلی دی
مهاربه دې په پوزه شي دسروزروخاونده
په سروشونډودپاسه مې پېزوان لیدلی دی
زه پټې سترګې نه یمه په هرڅه اوس پوهیږم
په خلاصوسترګوباندې ماجهان لیدلی دی
عمل چې وي ازاد اوانتقادپکښې بندي وي
ماهلته دظلمونوسخت طوفان لیدلی دی
له دامه که دې خلاص کړم په قفس کښې دې ایسارکړم
صیاده! ماخوڅورنګه زندان لیدلی دی
که هریورانه وژنې خیال اوفکرمې مه وژنه
په دې کښې مې وطن ته لوی تاوان لیدلی دی

# انسان*

زه جسم نه یمه ماروح ددې جهان وګڼه

تېټ مې مه بوله بام دخونې مې آسمان وګڼه

دخاوروګټوپه تخت ناست یم په هواکښې ګرځم

ټول حیوانات مې دي تابع ماسلیمان وګڼه

تیاره کښې نه یم په آسمان کښې مې ډیوه بلیږي

دآسمان واړه ملایک مې شاګردان وګڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

داټول نقشونه دجهان اومختلف رنګونه

زما په ذوق او ارادې پسې روان وګڼه

په کایناتوباندې زه هرقسم لوبې کوم

بحروفضامې دیوې منډې میدان وګڼه

شکایت نکړم له آسمانه څه ګیله نلرم

زما له لاسه دفلک څیرې ګرېوان وګڼه

سره له دومره اقتداره چې قدرت راکړی

په نری تارکښې مې دزلفوآوېزان وګڼه

دښکلومینه مې په عقل وفکرلوبې کوي

چې ستا وربل شي پریشان ماپریشان وګڼه

دعشق پنجونه نه خلاصېږم دلښکروپه زور

دایازمینه کښې اسیرشهنشاهان وګڼه

دلیلی یواشارات بس دی دعاقل دپاره

دعشق سوداکښې لیوني دېرهوښیاران وګڼه

دعشق اومینې په حرم کښې زه لوی شوی یمه

څوک چې بې مینې ژوندکوي هغه حیوان وګڼه

چې دجمال دېوه شوه بله پتنګان شوه پیدا

لومړی پتنګ ددغي شمع ته انسان وګڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څه جوړ شوه؟

زما داآه له حرارته دوزخونه جوړ شوه
له تورلوګی نه یې داپورته آسمانونه جوړ شوه

اوښکې له سترګو اوخولې زماله وچولي نه
چې تویې شوې دخدای په لارکښې جنتونه جوړ شوه

چې سرمی تیټ کړخپل ګریوان ته دمعناپه لټون
له یوه څاڅکی راته لوی دریابونه جوړ شوه

لکه غواص چې شوم غوټه دمعرفت په قلزم
هرې قطرې نه بې حسابه ګوهرونه جوړ شوه

دزړګي سترګې مې کړې خلاصې دجانان په لورې
شعوربیناشو ذوق پیداشو اوشعرونه جوړ شوه

چې آبادۍ ته مې کړه مخه ټول جهان شو ګلزار
له سپیروخاورونبایسته ښکلي ښارونه جوړ شوه

سره او سپین ماچې په نظرمحبت ولیدل
ښکلوته هاراوپادشاهانوته تاجونه جوړ شوه

مونږ کړه له خاورونه راوپورته زر په خاوروکښې و
زرودپاره ولې مونږ څخه مریونه جوړ شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

له خپله لاسه بتان جوړکړم بندګي يې کوم

باطل خدايان راته دوهم له مضمونه جوړشوه

نه وم خبرچې ثه کوم دثه مقصددپاره

رانه په لوبوکښي اتوم ثخه بمونه جوړشوه

## عدالت***

فرق دحق اودباطلوی حکمت دی

ددماغ اوزړه همدغه عبادت دی

چې صادق اوخاين بيل کړي يوله بله

اوس په کار مونږته همدومره بصيرت دی

بې له علمه بې له عدله بې له رحمه

په چاباندې رواکله حکومت دی

که مې ثوک په لښته ووهي ظالم دی

که قانون مې غوثوي سرعدالت دی

ديوه شخص نوکري خوغلامي ده

لوی عزت دخپل وطن اوقام خدمت دی

چې خپل ځان ګڼي خادم دخادمانو

په دې رازښه پوهېدلی نن“ الفت“ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوه ماموران*

زمونږ په محله کښې يودوه کوره ماموران دي

تنخواه اوپه رتبه کښې څه فرق نلري يوشان دي

خوراک ديوه هره شپه نرۍ وريجې چرګان دي

د ورځې کبابونه سالنونه نورشيان دي

دبل ماموپه کورکښې ماشومان ګورم چې ژاړي

پخ کړی يې پيتي وي دوی شوروالہ موره غواړي

سل رنګه نعمتونه دهغه کورکښې پخيږي

ميوې لمدې اووچې پکښې هروخت پيداکيږي

دښارمامورين واړه دهغه کورکښې عذريږي

دښې ډوډۍ صفت يې مجلسونوکښې تل کيږي

سهار يې په کاله کښې پراټې شودې هګۍ وي

په هره ورځ پيروی شيرچايونه په چرګۍ وي

دابل مامورکره کله سابه کله ښوروراوي

په مياشت کښې دې يو دوه ځله نرۍ وريجې رواوي

مدام دپورورو، ورسره غم وسوداوي

يوه تنخوا تربلې نه رسيږي حا ل يې داوي

هغه څنګه مامورده دې بل ولې داحا ل دی

دغورخاوندانونه زما دارنګه سوا ل دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کار اولیاقت کښې دی هغه ځنې بهتردی

هغه په پیسوباندې په هرځای کښې معتبردی

پخپلو سوغاتوپه لویوخلقو زورور دی

رشوت په رشوتونو هضموي دایې هنردی

کارغه دې خوري مرداري هریووایي چې بلبل دی

دپوهې صفتونه یې کوو مګرجاهل دی

دخپل آمرپه مخکښې نه پوهیږم څه پرې کیږي

سم نشي درېدلی ډېرکړیږي اوتیتیږي

سرټیټ غاړه کږه شي لاس سینې نه بېلیږي

اوضاع اوحرکات یې ټیټ اوپست رامعلومیږي

زمونږ په ماموری‌نوکښې دارنګه ماموران شته

په دغوصفتونومدیران اوحاکمان شته

راځئ هغه ماموراوداامورسره جلاکړو

دایوهرځای کښې وستا یودابل هرځای رسواکړو

دښوبدوتمیزوکړو دحق جذبه پیداکړو

لایق اوناlایق وپېژنووطن رڼاکړو

ترخوبه پټووسترګې په دغسې کسانو

قلم پسې راواخلئ دوطن ویښوځلمیانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دحق جذبه***

دحق جذبه ده چې په ځوی دپلاربوتان ماتوي

یوه سرې باندې طلسم دجهان ماتوي

دسکندرله سده ټینګ دی یوپه سله تقلید

دارازسدونه خاوندان دټینګ ایمان ماتوي

دخوف اوطمع محبت اوعداوت قیدونه

که هرچامات کړه هغه مکردشیطان ماتوي

دافلاطون په حکمت نه کیږي دحق پالنه

لښکر دظلم ومعصیت ابن عمران ماتوي

په عقل نشي لوی کارونه په جذباتوکیږي

بدنظامونه دجنون اوعشق طوفان ماتوي

دپلارنیکه په قدم مه ځه حقیقت پسې ځه!

هغه دودپربړده چې حکمونه دقرآن ماتوي

خپلوپردونه مجردشه لحاظونه مه کړه
دحق ورمیږمراعاتونه دانسان ماتوي

# خاوري اوګردونه

(۱)

که ښندې کله جامې خپلې له خاورو

ته پوهیږې؟ چې ګردونکښې دلارو

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځـــــــي هســـــــېږ یومېلمـــــــــه لـــــــه کـــــــوم هېـــــــواده
چـــــې یـــــې خپـــــل کـــــالي ښنـــــډلی پـــــه څـــــووارو
(۲)
لــــــــه کــــــــوم لــــــــوری راروان یوجهــــــــان ګــــــــردو
مــــــخ اوښــــــتې بانــــــدې یــــــې پــــــروت دلاري ګــــــردو
مــــــاوې څــــــه دې ولیــــــدل پــــــه دې جهــــــان کښــــــې
ویلــــــې دومــــــره شــــــومه پــــــوه چــــــې جهــــــان ګــــــردو
(۳)
لــــــــــــه دې خاوروشــــــــــــوه پیداډېرعالمونــــــــــــــه
چــــــې آبــــــادې کــــــړه لــــــوی کلــــــي لــــــوی ښــــــارونه
یوڅــــــــــــوورځې یــــــــــــې دژوندســــــــــــندرې ووې
بیرتــــــه خــــــاورې شــــــوه اوچــــــت یــــــې شــــــوه ګردونــــــه
(۴)
کلـــــــــــی وران وخوبـــــــــــاقې یـــــــــــې لا آثـــــــــــارو
یومرغـــــــــه پـــــــــه دېـــــــــوا ل ناســـــــــت دایـــــــــې ګفتـــــــــارو
دغـــــــه زوړدېـــــــوا ل چـــــــې ګـــــــورئ پـــــــه یووخـــــــت کښـــــــې
جـــــــــــــوړونکی دکورنوپـــــــــــــوخ معمـــــــــــــارو

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۵)

لکه بوی چې له ګلشنه راجداشي

یابخارله دریابونوپه هواشي

یوه ورځ به هم زمونږله خاورو دوړو

یوګرد پورته له صحرانه ددنیا شي

# فرداوملت

(۱)

په زرګونوکلوژونودکړي ملتونه

په قرنوقرنوځملي وي ولسونه

د افرادو دعروج هسې مثال دی

لکه وي چې دریابو نوکښې موجونه

(۲)

په اسلام کښې فردتابع دجمعیت دی

دملت اجماع قانون دشریعت دی

پس دخدای اودرسول له امرونهی

دښوبدومعیارفکردملت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# علم اوپوهه

(۱)

بصیرت اوعلم نشته په کتاب کښې
که څه نه وي دمغزوپه پېچ وتاب کښې
علم او پوهه بل شی نه دی بینایي ده
خوشې ناست یې پټې سترګې په محراب کښې

(۲)

پوهه ټوله راوتلی له مغزوده
هسې نه چې په دې ډېروکتابوده
په نظرکښې که دقت صحیح سنجش وي
علم زیرنده ددغسې کتووده

# سړیتوب

دتوتیانو له وینه دامعلومیږي
چې خبروباندې څوک نه سړی کیږي
سړی نه دی چې یې کاردسړونه وي
په خبروکه هرڅومره ښه پوهیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# همدردي

پتنګ نه دی په ډیوه چې ستي نشي
بلبل نه دی چې په ګل فریادي نشي
زړه یې مه بوله تورکاڼی دصحرادی
په لیدو د زخمي زړه چې زخمي نشي

# سیاست

سیاست دمطلب سرته رسول دی
په تدبیراوفکرباندې کارکول دی
خپلوټولوکوښښوخپلونقشونه
مستقیمه نتیجه نه اخیستل دی

# بې قدري

لکه ګل دبیابان هسې لوییږم
څوک مې نه ویني په سترګوچې څه کیږم
دښایست قدرمې هیچاسره نشته
دانسان وتش نظرته هوسیږم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډیموکراسي

پرستش دیوه تن بت پرستي ده
دمسلک پیروي لویه ازادي ده
په کوم ځای کښې چې یوفکرکړي کارونه
هلته خوشې مهمل لفظ دیموکراسي ده

# دروح اطمینان

هغه ځای کښې وي دژوند واړه خوندونه
چې خوک نه ویني څه زجربې قانونه
اطمینان دروح اوفکرهلته بویه
چې اصول اوقوانین کوي کارونه

# صبر

(۱)

ځینې وایې صبرغم کښې نه زړل دي
داولادپه مړینه ږیره نه شکول دي
که صحیح معنایې غواړې زما جانه
په سختیوکښې دخپل ځان نه بایلل دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

(٢)

صابرنه دی که زحمت نه ځوک ویرېږي
یا هرشي ته لکه وورکی هوسېږي
بې صبري ده چې بېځایه خوشحالی کړی
یاځوک زیات له ضرورته په قارېږي

# ددنیا قانون

یوه ورځې سحرووې په خنداکښې
داقانون مدام جاري دی په دنیاکښې
چې ضعیف دزورورخواکښې ورکیږي
لکه ورکه چې سپوږمۍ شوه دلمرخواکښې

# یوسف اوزلېخا

ته یوسف نفسي ارزو دې زلیخاده
ستاپه برخه غلامي ددې لیلا ده
که خپل ځان دې ورنه خلاص کړپادشاهي ده
که یې خوښې ته ځان وسپارې ګناه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فکر او مینه

مینه تل اوسي دزړولاندې کوروکښې
فکروي ددماغونوبنګلوکښې
په لوړکورکښې که څه عقل فکرغواړي
محبت مه لټوه لوړوقصروکښې

# آشنايي

له غموسره مې هومره آشنايي شوه
چې يې اوس راته مشکله جدايي شوه
له ترخوزړه نه صبريږي چې عادت شي
دښمن هم سړی ته خوږشي چې ياري شوه

# فکر او کار

(۱)

چې له لرې سړی کاندي سنجشونه
کارته نه رانږدې کيږي کړي فکرونه
له دې فکراوسنجشه پيداکيږي
دماغونوکښې سودازړوکښې غمونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲)

بېلـه فکرچې څوک کارکړي خوشې زيارکړي
چې بې کاره کړي فکرونه ځان به خوارکړي
چې عمل اوفکريوله بله بېل شي
عمل خوارشي فکر ورکه سمه لارکړي

# بې خبري

(۱)

په ګودرپېغلومنګي خپل ډکول
يومنګی دډکېدووخت کښې ويل
تري نه يواوبه څکوخونه پوهېږو
چې څه رازبه وي دتېری اوبه څکل

(۲)

په رښتيا چې څوک منګی غونډې ډکېږي
ورو ترېوله احواله څه خبرېږي
په کندوانوڅوک پېړه نه شي اچولی
که په لوړه دخوارانو نه پوهېږي

# علت اوسبب

هسې وايي سوی سوی پتنګان
چې مونږ پېژنوسيزونکی دخپل ځان
مونږله شمع، شمع اورله تيلی واخيست
تيلی واخيست اورله لاسه دانسان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دهقانه

(۱)

ستا دلاس ګل ته بلبله خوشحالېږي
ستا له باغه دبهارورمه تاوېږي
ښایسته جوني ږدي ستاګلان وربل کښې
بوراګان دي په ګلونوتپرېږي

(۲)

ګوره پري نړدې داځمکه هسې شاړه
دنیاده ستا دغوایي په ښکرولاړه
نن ملاتیته کړه خپل کارته غفلت مکړه
بیا پخپل چمن کښې ګرځه هسکه غاړه

# شعر

چې په جهان کښې نوراني روښانه لمرپیداشو
فکر او ذوق سره یوځای شوه ښه نظرپیداشو
ښایست یې ولیده دعشق پکښې اثرپیداشو
له دغوتولونه بیاشعراوهنرپیداشو

# مات کودړی

(۱)

دګودرپه غاړه پروت و مات کودړی
ویلې زه وم روغ منګی کلال جوړکړی
دلته لوبوکښې زه مات یوه ځلمی کړم
یوي پېغلې په اوروومه راوړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دجهان هره ذره کښې عشق عیان دی
مات کودړی سره هم دعشق داستان دی
ډیرمین په دې کودردي یوځای شوي
ډېرمنګي دلته مات شوي لنډبیان دی

# خوشحالي

کوروکلي کښې سکوت اوقراري وه
چې کتل مې په کوخوکښې خوشحالي وه
یوناڅاپه راپیداکوم لیونی شو
ماشومان ورته راغونډشوه خوشحالي وه

# تور او سپین

که مې سرشي دهاتي له پښولاندې
که له پاسه مې راغورځوي دلاندې
تورته سپین نشم ویلی سپین ته تورزه
دااميددي خوک له مانه هيڅ نه کاندی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شعر او حکمت

(۱)

په رڼا کښې دلمرخومره لوی حکمت دی
ژوندپاره ډیرضروردا حرارت دی
مګرګوره دآسمان سپینې سپوږمۍ کښې
خاوند اینبی دجما ل شعري کیفیت دی

(۲)

په رڼاکښې که دلمرد ژوندګوهرشته
دسپوږمۍ رڼا کښې بل کیف و اثرشته
په جهان کښې دي ضروردواړه خیزه
ځکه دلته شپه او ورځ شام وسحرشته

# سپین او تور دیوان

(۱)

چې څه کړی په جهان کښې سلیمان دی
مالیدلی په قدرت کښې دانسان دی
په رښتیا که ته څه کاروروځنې واخلې
شپې او ورځې هغه سپین اوتوردیوان دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲)

څه چې غوښتی سلیمان دسبا ښارنه
ته یې مومې دسبا ورځې له کارنه
دبلقیس تخت به دسترګو رپ کښې راوړی
دا امید کېږي دشپو ورځوله زیارنه

# حقیقت

(۱)

کبان وایي ژوندپیدادی له دریابه
سمندروایي چې دی داورله تابه
لټوي یې دهوامرغان هواکښې
حقیقت ورک دی ددهرله کتابه

(۲)

بلبل وایي دګل رنګ دی دستایلو
نسیم وایي خوشبویې بویه دوړلو
فیصله درنګ وبوی شوله مشکله
سرګردانه کړ نسیم شوردبلبلو

(۳)

ځینې وایي غوټۍ خاندي هوسېږي
زړه تنګۍ نه نجات مومي چې غوړېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینې نوروایي له ډیرې زړه تنګۍ نه
زړه یې چوي اوګریوان یې څیری کیږي

## ثواب

دبداى ثواب دورى مړول دى
دفقیرثواب روژې خداى ته نیول دى
غازي وژنې بل سړى ثواب دپاره
دشهیدثواب خپل ځان په بل وژل دى

## دشاعرشعار

په سرکښې فکردوطن په زړه کښې مینه دیار
دزوراوظلم لوى دښمن دازادۍ طرفدار
په حق ویلوماتوي بت اوطلسم دډار
شاعر دپاره مناسب دى همدغسې شعار

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دالفت پېژند ګلوي او ژوند پېښې

ګل پا چاالفت په ۱۲۸۸ هجري ش ۱۹۰۹ ع کښې دلغمان د عزیز خان په کڅ کښې زېږیدلی دی.
پلار یې میرسید پاچا اونیکه یې سید فقیر پاچا دی.
په ۱۳۱٤ کښې د انیس په اداره کښې کاتب شو.
په ۱۳۱٥ کښې د انجمن ادبي غړی.
په ۱۳۱٦ کښې د انجمن ادبي له غړیتوب سره د زیری د جریدې چلوونکی هم و.
په ۱۳۱۸ کښې د پښتو ټولنې د صحافت د مدیر مرستیال.
په ۱۳۱۹ کښې د پښتو ټولنې د لغاتو او قواعدو د څانګې مدیر.
په ۱۳۲۰ کښې د اصلاح د ورځپاڼې مشاور او بیا د پښتو ټولنې عمومي مبصر او د کابل مجلې چلوونکی.
په ۱۳۲٥ کښې د اتحاد مشرقي (ننګرهار) د جریدې مدیر.
په ۱۳۲۷ کښې په ننګر هار کښې د قبایلو عمومي مدیر.
په ۱۳۲۸ کښې د جلال آباد د خلقو له خوا د ملي شورى په (۷) مه دوره کښې وکیل شو او په ملي شورى کښې د دوهم معاون په حیث وټاکل شو.
په ۱۳۳۱ کښې د لغمان د قرغیو خلقو د شورى اتمی دورې ته وکیل وټاکه.
په ۱۳۳٤ کښې د جلال اباد له خوا د لویې جرګې وکیل وټاکل شو.
په ۱۳۳٥ کښې په لوړې رتبه د پښتو ټولنې رئیس مقررشو او د پوهنى دوزارت د عالي شورى په غړیتوب ومنل شو. همدارنګه د حقوقو دپوهنځی او د ادبیاتو د پوهنځی د پښتو استادي هم ورپه غاړه شوه.
په ۱۳۳۸ کښې د افغان او شوروي د دوستۍ ټولنې رئیس هم شو.
د ۱۳۳۰ د جوزا له میاشتی د ۱۳۳۲ د عقرب تر آخره د اولس د ملي جریدې د امتیاز خاوند هم و، چه د لیکوالۍ ډیر زیات کار د ده په غاړه و او د فارسی اوپښتو مضامینو په لیکلو اوتهیه کولوکښې ئې درنه برخه درلوده چه ډیرې زیاتې مقالې یې په دې جریده کښې په مستعارو نومو اوبې نومه یا د اداری په نامه نشر شوي.

## د ده چاپ شوی لوی او واړه کتابونه دادي:

۱- دپسرلی نغمه.
۲- بله ډیوه.
۳- لغوي څېړنه.
٤- پښتو سندرې.
٥-عالي افکار.
٦- څه لیکل یا لیک پوهه.
۷- ادبي بحثونه.
۸- پښتوکلی پنځم جلد اول ټوک.
۹- پښتو کلی پنځم جلد دوهم ټوک.
۱۰- د آزادۍ پیغام.
۱۱- غوره اشعار.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۲- لوړخيالونه او ژور فکرونه.
۱۳- منطق.
۱٤- غوره نثرونه.
۱۵- املأ او انشأ.
۱٦- ليکوالی (املأ او انشأ) دوهمه طبع چه له پخوا نه پکښې ډير زياتوالی راغلی دی.
۱۷- نو سبک او نوی ادب.
۱۸- د زړه وينا.

**هغه کتابونه ئې چه تر اوسه نه دي چاپ شوي.**

۱- نوی څرک (دپښتو لغاتو مقايسه له نورو ژبوسره).
۲- څه ګورم او څه اورم؟
۳- اجتماعي نظريات.
٤- ښه لمسون.
۵- د ټولني علم (ترجمه).
٦- د موفقيت لار (ترجمه).

**نورو هيوادو ته رسمي سفرونه:**

۱- د ۱۳۳٦ د حمل په ۳ مه د يوه هيئت په مشرۍ پيښور ته تګ د رحمن بابا د قبر جوړولوپه غرض.
۲- د ۱۳۳٦ د ثور په ۲۸ مه د يوه کلتوري هئيت په مشرۍ اتحاد شوروی ته تګ د کلتور د وزارت په بلنه.
۳- د ۱۳۳٦ د اسد په ۲۹ مه د يوه هيئت په غړيتوب مونشن ته تګ د مستشرقينو په ۲٤ مه کانګرس کښې د شمول په غرض.
٤- د ۱۳۳۷ د ميزان په ۳ مه تاشکند ته د يوه هيئت په غړيتوب د اسيائي او افريقائي ليکوالو په کنفرانسونوکښې د ګډون په غرض.
۵- ۱۳۳۹ د ثورپه ۸ مه د يوه هيئت په مشرۍ اتحاد شوروي ته تګ د دوستۍ ټولنې په بلنه.
٦- ۱۳۳۹ د اسدپه ۱۵مه د يوه هيئت په مشرۍ مسکو ته تګ دمستشرقينو په ۲۵ مه کانګرس کښې د ګډون په غرض.
۷- د ۱۳٤۰ د ثور په ۹ مه د يوه هيئت په مشرۍ اتحاد شوروی ته تګ د دوستۍ ټولنې په بلنه.

په دغو سفرونوکښې يې دا ځايونه ليدلی دی.

مسکو- لينګراد- سوچی- باکو- دوشنبه- تاشکند- کيف- ولګا ګراد- تفليس- سمرقند- مونش- تهران- پيښور.

په دې سفر ونوکښې يې په رسمي دعوتونوکښې ډيرې وينا وې کړی اوکنفرانسونه ئې ورکړيدی.

# پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**